# قامتونه قیامتونه

د جنت د حورو خیاله ستر ګې وغړوه ګوره
په دې غرونو کې پېښېږي، قامتونه قیامتونه

شعري ټولګه

Pukhto.Net
پښتو

صاحب شاه صابر

# قامتونه قیامتونه

ډاکتر صاحب شاه صابر

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# تړون

د خدای بخښلي **عطاء الله** په نوم

زما زلمیه خوانیمرګه اشنا
غم دې زلمی اوسه چې نه زړېږې


## د کتاب ځانګړنې:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | قامتونه قیامتونه |
| ویناوال | ډاکتر صاحب شاه صابر |
| خپرندوی | دانش خپرندویه ټولنه |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ نېټه | ۱۳۸۵ ل/ ۲۰۰۶ ز |
| کمپوزګر | ذ شفق |

دانش خپرندویه ټولنه



Pukhto.Net
پښتو
www.sikaraam.com



چاپ او کمپیوټر ځای

# د خپرندويې ټولنې يادښت

ډاکټر صاحب شاه صابر د پښتو ژبې هغه حقدار ليکوال و شاعر دی. چې له کره کتنې سره سره د شعر په ډګر کې هم ښه بريالی شاعر پېژندل شوی

هر څوك. چې دا واوري

وربخـــــې راوله ياران راوله
څنو له څنډ ورکړه توپان راوړله

نو ذهن ته يې دستي د ډاکټر صاحب شاه صابر نوم راشي

له دې مخکې هم د ډاکټر صابر دوه شعري ټولګې د (تکل) او (خوبونه) په نوم له چاپه راوتلې

دانش خپرندويه ټولنه د ډاکټر صابر د (خوبونه) او (قامتونه قيامتونه) شعري ټولګو او د تحقيق او تنقيد فن د چاپ وياړ لري.

په دې کتاب کې موږ د ليکدود په برخه کې د لرې پښتونخوا د پر رعايت کړی. هيله ده وبه مو بخښي

موږ (قامتونه قيامتونه) د چاپ له لامله شاعر ته له مبارکۍ سره يو ځای د نورو شعرونو د پنځونو لپاره د دعا لاسونه لپه کوو

دا کتاب په ننګرهار کې د **سعدالدين شپون او درويش دراني** په وياړ جوړېدونکي سيمينار په بختوره موقع له چاپه راباسو. دا هم تاسو او دا هم (قامتونه قيامتونه)

په درنښت

www.sikaraam.com

دانش خپرندويه ټولنه_ پېښور

# نعت

چې زما د زړه او ذهن ترجمان دے
محمد ص زمونږ نبی ص آخر زمان دے

د جاهل او جهل دواړو سره وران دے
د عالم او علم دواړو قدردان دے

مسلمان خو زوروره مسلمان دے
په سختۍ کې په کافر هم مهربان دے

څو چې څوک د سرېتوب په لار روان دے
هم هغه یې امتي دی مسلمان دے

د دنیا د مظلومانو ترجمان دے
د ظالم په خونه تندر د اسمان دے

Pukhto.Net
www.sikaraam.com

د تېرو غرور يې خاورې کړو رښا شوه
کلک يقين، کلکه جذبه ده، پوخ ايمان دے

په کچکول کې يې رښا د کاېناتو
څنګ فقير دے چې بادشاه د کل جهان دے

د انسان دپاره صلح امن غواړي
ددنيا دپاره امن دے ايمان دے

هر جهاد ې شروع کړي د خپل ځانه
په هر جنګ کې مېړنے مرد ميدان دے

د خداى خوښه يې د خدايى دپاره خوښه
د لوے خداے د خدايي خوښه، د خداے شان دے

د فتنو د فسادونو سخت خلاف دے
سوچه امن، سوچه مينه ده، ايمان دے



Pukhto.Net

# امام حسین ته عقیدت

کربلا ده، تودې شګې دې غرمه ده
تودې تندې اور اخیستی غرغره ده

د ایمان د نور رڼا ډیوه ډیوه ده
پتنګان لمبه لمبه دې تماشه ده

نه په تاو، نه په تاوان نه په غرمه ده
د الفت خومره معصومه عقیده ده

وارخطا د یزیدانو رویه ده
شهادت د حسینینو وظیفه ده

که د ظلم د نهنګ غابنونه کلک دي
خو! د حق وینا د اوسپنې نسته ده

www.sikaraam.com

د یزید د بادشاهۍ نیمګړی خیاله
د حسین د سر سودا ډېره ترخه ده

د یزید سره لښکري خزانې دي
د حسین سره یوه د خدایی اسره ده

د حسین دله رښتوني ده کره ده
د یزید دله باطله ده، خوره ده

اوس که هر څو د دروغو زمانه ده
خو د حق هغه لار هغه فلسفه ده

له درونو له دارونو بې پروا ده
د الفت د لېونو بله نشه ده

د هر ستوري د رڼا سترګو کې اوښکې
د هر ګل د پرهر خوله په وینو سره ده

د یزید د خپل او خیاله مخالف دی
د صابر او د حسین لاره یوه ده.

www.sikaraam.com

# غزل

د پرهــر ژبــه مــې هغســې ګويــا ده
خــو د زړه درزا مــې ستړې ده ســاه ســاه ده

د منـــو زړونـــه مـــه مـــاتوئ خلکـــه
پـــه دې ښـــار کـــې دغـــه لـــره شـــان رښـــا ده

مـــا د مينـــې دنيـــا ومونـــده غنـــي شـــوم
خلکـــو وې چـــې پـــه دنيـــا کـــې خـــو دنيـــا ده

چـــې د زړونـــو آئينـــې پـکـــې زنـــګ اخلـــي
يـــره! دا لا څنګـــه ښـــار څنګـــه هـــوا ده

د رقيب په خوله کې څنګ ښکلی تاثير دی
هـــر څـــوك وايـــي چـــې منـــو تـــه ګنـــاه ده

www.sikaraam.com

چې پخپلو کې پښتو ویلی نه شو
په دې څه که پښتانه یو پښتونخوا ده

د ارمان په سترګو لره شان رڼا شوه
راختونکې چرته سترګه د سبا ده

ما په دې دنیا کې مه چېړه ناصحه
هغه بله دنیا ستا سهي چې ستا ده

د قیامته هر سړی داسې پرېږدي
لکه هر سړی چې کړي څه ګناه ده

د نظر په زور دې څوك غاوره نه شي
ما په غشو کې پېرلې خپله ساه ده

د خودۍ نشه یې ماته شوه په سر کې
د **صابر** د خودسرۍ دغه سزا ده

# غزل

غرسنی د تورو غرونو پناه کېږي
که سپوږمی د ګړنګونو پناه کېږي

ما یې یو دیوال ترمېنځ زغملے نشو
هغه خي. ځي د ملکونو پناه کېږي

ما وژلو له سپرلی د ځان سره کړي
ما چې وینې د ګلونو پناه کېږي

د مخ سرو یې د اسمان لمنې سرې کړې
لکه نمر په چنارونو پناه کېږي

www.sikaraam.com

په کوڅو کې څوک د مينې رڼا وېشي
چې تېرې د ګټ پيرونو پناه کېږي

چې رښتونو څه وې هغه رښتيا کېږي
دروغژن د ديوالونو پناه کېږي

دغه چا ورته زما د راتلو ووې
دغه څوک ده چې د ورونو پناه کېږي

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

په غـزل او پـه سـندره نـه پوهېـږي
يـار د سـره پـه خبـره نـه پوهېـږي

ماتـه وايـي چې زمـا پـه رضـا ګرځـه
پوهـوم يـې خـو کـافره نـه پوهېـږي

چې په کوم لوري مخ واړوي ملك وران کړي
بخپـل زور خـو زړوره نـه پوهېـږي

مـا د مينې په راز خوګ خوګ خله پويې کړه
خـو د حسـن جـادوګره نـه پوهېـږي

www.sikaraam.com

که رښتیا وایې بهر د څړیکې څه دي
چې وځي مې د پرهره نه پوهېږي

د هنر په جامه پټ قامونه شته شو
پښتنو اغوستې زغره نه پوهېږي

ځینې خلك د ازله زورور وي
ځینې خلك بې د شره نه پوهېږي

چې زما یقین یې یره وروکه نکړه
ترهېدلې ده اوتره نه پوهېږي

دا په څه نشه کې داسې لېونی ده
چې پرېوزي د کمره نه پرهېږي

Pukhto.Net

www.sikaraam.com

# غزل

د خانانو به څه وایو چې خانان دي
ملنګان د پښتنو خپلو کې وران دي

چې د خانه ناخبره دي د ځان دي
چې د ځانه خبر شوي دي په ځان دي

مونږه هغسې د زمکې لایق نه یو
د دنیا قامونه ستورې د اسمان دي

وخته دلته چې قدم ږدې نو په خیال ږده
ددې خاورې کاڼې بوټې شهیدان دي

پښتنو هغه ګنهګاره دوزخې ده
پښتانه غزا له تلې جنتیان دي

Pukhto.Net



www.sikaraam.com

د صدو نه د سیندونو خوا کې اوسو
خو! زمونږ فصلونه اوس هم په باران دي

داسې ښکارې چې ربښتوني خلك ډېر دي
د دنیا خلك له ژبې اوېزان دي

سرېتوب وي د سړي په خو خبرو
په سړي کې خو خو نښې د انسان دي

زه ربښتوني چې څه وایمه ربښتیا شي
خلك وايي چې په دې سړي پېریان دي

دا یو څو یاران که نه وي بیا به نه یم
زما ژوند دغه یو څو خوا ږه یاران دي

د ښاغلو لېونو لېونے پیر دے
د **صابر** یاران د مینې قدردان دي

www.sikaraam.com

# غزل

څوك دي نه وايي چې ماته ګناه نۀ شته
د کابل په جنګ کې چاته ګناه نۀ شته

ما خو وې چې ته پخپل اختيار کې نه يې
ما خو تاته وې چې تاته ګناه نۀ شته

زوروره! زورور خو زورو دي
زورور ته خو ميراته ګناه نۀ شته

چې په خلکو کې د عقل ترې نه وي
که دروغ وايي ملا ته ګناه نۀ شته

مونږه څه ورکړي څنګه ترې څه غواړو؟
نوي ژوند نوی دنيا ته ګناه نۀ شته

www.sikaraam.com

نه . نه ستا ظلم په ظلم حساب نه دے
نه . نه تاته خو نیاواته ګناه نه شته

داسې لر لر زه له ځایه لېوني وم
د ساقي سترګو ته زیاته ګناه نه شته

چې زمونږه د بلا سره یاري ده
که بلا مو خوري بلا ته ګناه نه شته

مونږ د ځان سره څه ونه کړه **صابره**
مونږ په ځان کړي دنیا ته ګناه نه شته.

www.sikaraam.com

# غزل

څه ګلونه، څه رنګونه څه نغمې کړم
ستا د ښار خبرې ستا په شان خوږې کړم

د تیارو د غرور سترګې به رڼې کړم
پرهرونه به په لارو کې ډیوې کړم

څوك چې ما او تا یوځای لیدلی نه شي
وریسې به هغه ستا د خولې ښېرې کړم

www.sikaraam.com

د جانـــان د خوبولـــو ســترګو یـــاده
تـه راځـې کـه د زخمونـو ډیـوې مـړې کـړم

زه د هـر محفلـه سـترې کـور تـه راشـم
زه پـه هـر اتـڼ کنبـې خـان ذرې ذرې کـړم

هغـه سـترګې دې یـو څـو ورځـې زمـا شـي
چـې د مینـې پـه خوبونـو یـې مـړې کـړم

د سپرلي لـه خوا پـه ډېـره نصیب غـواړم
چـې د ګل شونډې پخپلو وینو سرې کـړم.

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

نور زما په ژوند کې څه دي د زړو ورځو یادونه
شوګیرو وهلې سترګې، سترې سترې ارمانونه

ما په خوږ زخم کې پټ کړل، ما په سور پرهر کې ونغښت
وینې وینې ارمانونه، څړیکې څړیکې حسرتونه

خدایه! دا لا څنګه ژوند دے ما خو کله کله وژني
د ساقي ګلابي سترګې انګوري سره شرابونه

محبت او عقل دواړه چې لیدلي لیدلي لېوني دي
د باګرام په مازیګر کې، د باګرام سکني سیلونه

د جنت د حورو خیاله سترګې وغړوه ګوره
په دې غرونو کې ښېښې قامتونه قیامتونه

www.sikaraam.com

دلته دومره اوبه نه شته چې څوك وكړي ګلونه
دلته غرونه غرونه واورې، دلته واورې واورې غرونه

د فطرت په لاس كې ډېر څه خو مننو له څه وركړي
زلزلو ځپلې زمكه، تندر تندر اسمانونه

يره ژوند دې خو څه ژوند دى، چې تېرېږي څه تېرېږي
بې نښې مازيګري دي، بې ديدنه ماښامونه

د **صابر** د زړه په كور كې ما ليدلي دي ګواه يم
د زخمونو دفترونه، د دردونو كتابونه

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

راځي د ځان سره رڼا راوړي
سپرلي قسم کړے چې تا راوړي

دا چې په کلي کې نفرت خوروي
دا خلک کلي ته بلا راولي

ما د ارمان په خوله باور کړی ؤ
ما وې چې تا به په رښتيا راولي

زما نه غم د محبت هېروي
زما خوږمن ما له خندا راوړي

www.sikaraam.com

Pukhto.Net

زمـا د زړه د پرهـر ځړيکـه ځړيکـه
تـا يـادوي مـا لـه ژړا راولـي

مونـږ چـې ډيـوه د محبـت بلـوو
وخـت مهربانـه شـي هـوا راولـي

څوك به ستا نوم د چا نه څنګ پټوي
څوك به سپوږمۍ کور ته په غلا راولي

سپرلی، ځواني او لېوني خيالونه
يـاد يـې د ځـان سـره دنيـا راولـي

دا د شـعور پـه شـرعه مخکـې تلـي
دا قـافلې بـه څـوك پـه شـا راولـي

سـتا د بنـو د بـڼ الـوتې مرغـۍ
مـا د بنـو سـنورۍ لـه بيـا راولـي

www.sikaraam.com

دومره څه یو بل خو به وپېژنو
سپرلی به دومره څه رڼا راولي

څنګ د واعظ خبره ومنمه
دنیا به څنګه څوك په شا راولي

نور دې څوك نه ژاړي چې نه ژاړمه
دلته چې څوك ژاړي ژړا راولي

د چا خاطر وي د چا غم **صابره**
تا مېکدې ته خامخا راولي

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

ته خو خبر یې چې په تا څه وشو
ته څه خبر یې چې په ما څه وشو

په میکده کې چې بېګاه څه وشو
ستا په سر وشو چې اشنا څه وشو

ګرځمه خپل کور پکې نه پېژنم
په کلي وشوه که په ما څه وشو

خپل پکې یو نبل سره نه پېژني
دا ددې دور په رښا څه وشو

ښه رښتیا څه یې وې چې نه به راځې
قاصده دا څه وایې دا څه وشو

www.sikaraam.com

په میو وینځي د لمن داغونه
په محتسب خو په رښتیا څه وشو

خبره دا وه چې انکار یې وکړو
خبره دا نه ده چې بیا څه وشو

ما د بلا زلفو بلا غوښتله
ما سره دغسې بلا څه وشو

ساه پکې اخلم خو ساه یم پکې
هسې مې وژني په هوا څه وشو

هر څوک په ځان د ځانه نه دي خبر
څوک خبر نه شو چې په چا څه وشو

www.sikaraam.com

# غزل

خو یا به تا او یا به ما کوله
نوره د میني قیصه چا کوله

که د حالاتو سترګې هرڅنګه وې
ما د ارمان سره وفا کوله

واعظه خلاص شوې د ایمانه پکې
په محبت کې دې ریا کوله

ما به د شنو خالونو رنګ ورکوو
زما د زړه داغ به رڼا کوله

د هغه مخ د حیا سره داسې و
ما څه چې ګل به ترې حیا کوله

www.sikaraam.com

د ګاونډي خوب يې له خدايه غوښته
اشنا د خپله کوره غلا کوله

ما د ورو بچو ژړا ژړله
د کوټې هر لړګي تقا کوله

هغه شپه رنګ د مېکدې بدل و
هغه شپه ستا خبره چا کوله

خدايه چې هغه خلک څنګ خلک وو
چا چې به مينه په رښتيا کوله

زما د زړه هغه ورپورې نه شو
هغه چې تا به پکې تا کوله

**صابره!** ودې ليدو پوهه شولې
تا به په غم پورې خندا کوله.

www.sikaraam.com

# غزل

د خپـــل نظـــر زوروړتيــا ګـــوري
زمـا قاتـل پـه مـا کـې ساه ګوري

څــه نــوي، رنــګ رنـا ګــوري
سپرلے چاپېره ګرځـي تـا ګـوري

ماتـه پـه دې سرې کې غـلا ښکـاري
دا سرې ښکلو تـه پـه غـلا ګـوري

واعـظ پـه څـه د ژوند کتاب ولولي
هغــه پــه تکــو کــې ګنـاه ګـوري

زمـا احســاس مــا لــه سـزا راکـوي
مـا لـه څـه غـم ګوري سـودا ګـوري

www.sikaraam.com

ښکلي ښارونو ته راغونډ شو سره
مئينان څه له خي صحرا ګوري

ستا د ښو د بڼ الوتې مرغۍ
راځي زما د زړه درزا ګوري

زما په سترګو څه بلا شوې ده
که تا ته نه ګورمه تا ګوري

صابره څنګه تا ته وګورمه
دنيا ته نه ګورې دنيا ګوري

Pukhto.Net


www.sikaraam.com

# غزل

تنګ د یوې شپې د انتظاره دے
دا زړه نا قلاره، نا قلاره دے

هغه سرے هغسې په تا مئین
تا چې څوک شړلی ددې ښاره دے

هغه به د مینې لېونے نه وي
تا چې څوک شړلے ددې ښاره دی

اوس زما نظر زما نظر نه دے
تا چې اړولی ستا په لاره دے

هر سړي چې هر څه زهر ښبلي دي
هر سړی د هر څه نه وېزاره دی

www.sikaraam.com

دا سړے منم چې دروغژن نه دے
زړه یې ښه دی ذهن یې بېکاره دے

مینــــــــــــــه زورروره زړه وره ده
زړه یې رانه وړے ستا دپاره دے

څه وایې سپرلیه! ماته څه وایې
ستورو درته نه وې چې بې یاره دے

ستا د مینې تور پرې لګېدلے دے
تلی که **صابر** په هره لاره دے

www.sikaraam.com

# غزل

سپین تنکي غانټول او سره ریدي مې درله راوړه
غرونه مې راوړي نشو سپرلي مې درله راوړه

ما د کوه قاف بنا پیرۍ څه کولې راغلم
ستا دپاره تلے وم غمي مې درله راوړه

تا وې چې د بنګړي ګډا د هر غمونه ورك کړي
ما وې چې خوشحاله شې بنګړي مې درله راوړه

خیال د مستي ښغلې او د مات منګي ټیکري
زړه! د خپل وطن مازیګري مې درله راوړه

تا خو د جامونو توبه کړې ده واعظه
واخله شراب وڅښه کټوري مې درله راوړه

تــه د شــپې د لارې د تیــرو نــه یرېـــدلې
راشـــه د دنیـــا اور ورکـــي مـــې درلـــه راوړه

ډېر که مې زړه وغوښتل چې ډېر څه درله راوړم
هېـڅ مـې پیـدا نکړه اسویلي مـې درلـه راوړه

وختـــه هغـــه ستـــا راکـــړي تالـــه درکـــوم
لپـه کـه پـه لپـه کـې ازغـي مـې درلـه راوړه

مـا وې! چـې یـوازې یـې خفـه بـه یـې ***صـابره***
راغلـم د خـالونو ښـاپېري مـې درلـه راوړه

Pukhto.Net پښتو

# غزل

هغسې مینه کوم هغسې وفا کومه
ستا هغه یو نظر ته هغسې دعا کومه

ما چې د بل دپاره څه کړي سهي مې کړي
زه چې د ځان دپاره څه کوم، خطا کومه

اوس مې په زړه او ذهن داسې راخوره ده مینه
اوس چې د چا ښېره خبره کوم دا کومه

که ګناه نهٔ غواړي رښتیا وربخ دي نه راولي
زه په وربخو کې نشه کوم. ګناه کومه

www.sikaraam.com

# غزل

چې په تیارو کې د رڼا د زړه خبرې کوي
دا سرې څوك دې چې زما د زړه خبرې کوي

اوس سرې داسې په اسانه سرې نه پېژني
خلك هوښيار شو په خطا د زړه خبرې کوي

چې د رڼا او د رنګونو موسم پېژني څوك
باران ته ناست دي د برښنا د زړه خبرې کوي

څوك چې د جنګ وايي د جنګ د زوره نه دي خبر
دا لېوني دي د بلا د زړه خبرې کوي

www.sikaraam.com

دا چې په مونږ او زمونږ مینه پورې تهوقې کوي
دا څوک! د کم ځاے دي؟ دا د چا د زړه خبرې کوي

اوس څوک رښتیا خبره هم ښکاره کولے نه شي
اوس یاران یو بل ته په غلا د زړه خبرې کوي

مدام سنګسار وي په **صابر** غریب مې زړه هم وسوځي
څومره ساده دے په رښتیا د زړه خبرې کوي.

www.sikaram.com

# غزل

وږي، تږي وي زنځور وي لېوني دي
زموږ غم څه د غریب سړي بچي وي

سړي څنګ سړي خورو ته سړي پرېږدي
په سړي څو به خوږېږي چې سړي وي

د شکست حوصله نه لرم پښتون یم
مقابل که مې زنځیر وي که زمري وي

خو! چې څه د مینې خوږ لري په زړه کې
په ما ګران وي که د غرونو لېوني وي



www.sikaraam.com

که د کور د درد د دوړو نه راپټ شو
خو! په ښار کې د غم لړې وي لوګے وي

د زخمونو جامې واغوندئ چې ورشو
لېونو په مېخانه کې به سپرلے وي

ستا د غم د غنو سررې په سر ګرځي
ستا **صابر** به د رقيب د زړه ازغے وي.

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

چې په دروغو خوشحالېږي په رښتيا خفه وي
هغه ياران خو به له مانه خامخا خفه وي

زما خوږمن له ما نه لرې په صحرا دېره دے
زما په کلي کې څوك نه شته چې په ما خفه وي

هغه سړے څه عجيبه عجيبه توقې کوي
ما اورېدلي چې زما خفه په ما خفه وي

د پېښور په ښار بلا شوې چې اوسې پکې
زړه به دې تنگ وي په وجود کې به دې ساه خفه وي

www.sikaraam.com

د مرغو شور په کومه لاړ مرغۍ په کومه لاړې
ښونه ختم شو سحر خفه هوا خفه وي

مينه به کوم کوم زړه ساتي څومره ناکام به کوي
دا خو دنيا ده د سړي نه به دنيا خفه وي

دا د ازار په دېرې وختل ازار به مومي
چا چې نن جنګ وکړو دا خلك به سبا خفه وي

زه د زړه منمه، خو څه خبره ومنمه
دغه دے ستا نه مرور دے خو په تا خفه وي

څه لېونے دے چې په يوځاے کې خوشحاله نه وي
**صابر** په ښار کې مرور يې په صحرا خفه وي

www.sikaraam.com

# غزل

نه هغه رڼې سترګې نه بانه وینو تیاره ده
بې زړه نه یو خو څه وکړو، مونږ څه وینو تیاره ده

بس اورو چې په ښار کې د اسونو بادشاهي ده
په سترګو نه اسونه، نه سواره وینو تیاره ده

په دې کوڅو کې هسې غړېدلې سترګې ګرځو
د یار د ښو سورې پکې نه وینو تیاره ده

د ښکلو د مخونو په لیدو پسې ړانده شو
د ښکلو نظرونه څنګه ووینو تیاره ده

www.sikaraam.com

د ډېرې زمانې نه مو څه ولیده نه زده کړل
د ډېرې زمانې داسې څه نه وینو تیاره ده

د هغه ځایه اخوا خو تیرې د لامکان ذې
تر هغه ځایه هم څه رڼا نه وینو تیاره ده

ددې او د هغې تمیز به څنګ کوو **صابره**
په سترګو خو نه دا او نه هغه وینو تیاره ده.

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

د محبت د ګلستان خبرې نه کوي څوک
خلق هوښيار شو د تاوان خبرې نه کوي څوک

هر چا د خپلو پرهرونو ژبې وتړلې
د سرو ګلونو د باران خبرې نه کوي څوک

زما د ښار د محتسب دعا قبوله شوله
زما په ښار کې د ايمان خبرې نه کوي څوک

ياران په خوب کې ښاپېرې وينې، خوبونه وينې
د شپې د ستورو د کاروان خبرې نه کوي څوک

www.sikaraam.com

د قیامتونو قیامتونو قیصې هېرې شولې
د جنتونو د جانان خبرې نه کوي څوک

د ظالمانو زور قوي شو یرې ورکې شولې
د مظلومانو د ارمان خبرې نه کوي څوک

ما درته وې د نظر بازو د نظره به شي
ما درته نه وې چې د ځان خبرې نه کوي څوک

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

نه حوصله د انتظار لري نه مینې کوي
زړونه د کاڼي شو نه درد کوي نه وینې کوي

د نوي دور د شیرینو خولو د شره توبه
شیرني غواړي چې خبرې د شیرینې کوي

مونږه د خپلو خوش فهمو په څلو وژړوي
حقیقتونه فیصلې خودسره سنګینې کوي

دا ګودر هغسې د زړونو زلزلې یادوي
دا ګودر هغسې قیصې د ماه جبینې کوي

Pukhto.Net

چې د حالاتو په سره سینه کښې اور بلوي
سړے که هر څه وي جامې به اور ورینې کوي

چې د رنګونو سره الوزي رڼا خوروي
خیال به مهین لري، خبرې به رنګینې کوي

دا یو **صابر** دے چې څه څه نه څه رښتیا ووایي
دا یو سړے دے چې خبرې لږې سپینې کوي.

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

ما چې کوم نوم د خپل نظر په آئینه ولیکو
هغه نوم هر سړي پخپله دروازه ولیکو

زه خو سپرلی ستا د ښائست دمخه پېژنمه
ما خو غزل ستا د قامت په حواله ولیکو

د دوزخونو په تسودو لمبو کې ورغلمه
د جانان نوم مې د جنت په مناره ولیکو

د ښائستونو د سپرلي په ښار کې پوخ دېره شوم
د مینې تکې مې په زړه کې په پخه ولیکو

ما خو د ژوند په کتاب بل اعتراض نه دے کړے
ما يې تنقيد په بې ترتیبه سریزه ولیکو

www.sikaraam.com

زمـا د میـنې نـه منکـر زمـا د نومـه منکـر
زمـا غـزل د خپـل کتـاب پـه حاشـیه ولیکـو

مغل به اوس هم زورور وي په چا څوك به لري
مـا يې شکسـت د خپـل تـاريخ پـه تـاتره ولیکـو

هغـه چې مـا پکې ډیـوه پـه لاس تکـرې خـوړې
مـا يو کتـاب پـه هغـه شپه. هغـه تیاره ولیکـو

نور چې مې څه لیکل، کاغذ و په کاغذ مې لیکل
خو چې ستا نوم مې لیکو دا مې په سینه ولیکو

پـه زمانـه پـس مـې څـوك ولیـده چې هغسـې وه
پـه زمانـه پـس مـې يـو نظـم هغـه شـپه ولیکـو

www.sikaraam.com

# غزل

د ګلونـــو تماشــــه وي کلـــه لـــږه کلـــه ډېـــره
پـه نصـيب کـې مـې نشـه وي کلـه لـږه کلـه ډېـره

خپـل زخمونـه ښکلومـه خپلـو څړیکـو تـه تودېـږم
هـره شـپه مـې شـوګیره وي کلـه لـږه کلـه ډېـره

کلـه زار شـمه د خانـه، کلـه ځـان د چانـه زار کـړم
زمـا مینـه عجیبـه وي کلـه لـږه کلـه ډېـره

د پـې مخـو سـل خبـرې، سـل بهـانې. سـل مګیزونـه
د مـڼن یـوه ګیلـه وي کلـه لـږه کلـه ډېـره

د احسـاس د زړه پـه زمکـه د الفـت فصـل کرمـه
زمانـه رانـه خفـه وي کلـه لـږه کلـه ډېـره

www.sikaraam.com

هر نظر پکې تيندك خوري، هر احساس پکې تېروځي
پــه دې کلــي کــې تيــاره وي کلــه لــږه کلــه ډېــره

چې په کوم سر کې سودا وي چې کوم سر وکړي نروي
هغــه ســر تــه خطــره وي کلــه لــږه کلــه ډېــره

ته چې زلفو له څنډ ورکړې کلی وران کړې وطن وران کړې
تــه چــې راشــې زلزلــه وي کلــه لــږه کلــه ډېــره

د پــردو خبــرې اورې د پــردو پــه خولــه تېروځــي
د **صــابره** مــې ګيلــه وي کلــه لــږه کلــه ډېــره.

Pukhto.Net پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

باغ و بهار دي چې په سترګو کې خبرې کوي
ښکلي هوښيار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

د کوم سپرلي دي چې د حسن په نشه پوهه دي
د کوم ګلزار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

لا په مئنو د الفت نشه ختلې نه ده
لا خو هوښيار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

د خاموشۍ رواج يې هم په ژبه نه پوهېږي
څه ناقلار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

دلته چې ژبې خوزوي جېبونه ډک ګرځوي
دلته کې خوار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

www.sikaraam.com

دا خلق څوك دي چې خالونه يې زنګونه نولي
دا د کوم ښار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

هغه بې شماره دي چې ښکلي قامتونه لري
هغه په شمار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

دلته بې شرمو ژبه ورو دنيا وخوړله
دلته په دار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

د څړيکو څړيکو پرهرونو نه يې وينې څاڅي
دلته بيمار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

نشه نشه دي چې احساس لري په غم اخته دي
خمار خمار دي چې په سترګو کې خبرې کوي

ته به يې پېژنې **صابره** خو تا نه پېژني
دا د لوي ښار دي چې په سترګو کې خبرې کوي.

www.sikaraam.com

# د وینې رنګ (نظم)

او!
زه د خپلې وینې رنګ پېژنم
دا څاڅکي څاڅکي تکي تکي په دې لاره پرته
په کاڼو بوټو خوره
دغه زما وینه ده
دا څوك وینځلې نه شي
که په دې هر څومره سیلۍ والوزي
که په دې څومره بارانونه وشي
خو رنګ به نه اړوي
ماته معلومه ده
زما وینه ده
دا به رڼا کوي د ستورو په شان
دا به دنیا له حوصله ورکوي
دا به سبا له فیصله کوي.

www.sikaraam.com

# ګواهي (نظم)

زه هغه لاس هغه ټوپک پېژنم!
چې د کوم لاس د کوم ټوپک دلاسه
زما د قام د مشرانو سینې
غلبېل غلبېل په وینو ورنګېدې
زما د ننګ د ملنګانو وینې
لکه اوبه د باران وبهېدې.

دغه لاس دغه ټوپک دغه مورچه
زما دسترې ژوندد عمر قیصه
دغه زما دپیاره نوې نه ده
دغه زما د زمانو تجربه.

دا ټوپک، دغه شپېلۍ، دا مړدکي
مدام زما د زړه، خکره وتي
دا بارود، دغه ګولۍ، دغه لوګي
زما د هر شهید د سره وتي

www.sikaraam.com

زما د خوَمره شهیدانو وینې
دغه نظر، دغه ګولۍ خوړلې
زما د خوَمره ارمانونو وینې
دغه ټوپك دغه شپېلۍ نوستلې.

دغه لاس، دغه ټوپك دغه نظر
زما ښکالو، زما اواز پېژني
زما د زړه د رڼا لارې نیسي
زما سندره، زما ساز پېژني.

ما چې په کوم لوري قدم اخیستی
دغه نظر په هغه لور وتی دی
زما شعور چې کله ساه اخیستې
ددې ټوپك د خولې نه اور وتی دی

دغه لاس دغه ټوپك، دغه ګولۍ
مدام زما په وینو رنګ راغلي
دغه اور، دغه نظر، دغه خطر
زما د قام سره په جنګ راغلي.

www.sikaraam.com

خو! دا خل دغه دښمن. دغه قاتل
ما سره ډېره عجيبه کړې ده
زما پښتو پورې يې توقې کړې
زما په لاش يې تماشه کړې ده.

زما پښتو لا دومره سپکه نه ده
چې دا ناشوني ناروا وزغمي
پښتون لا دومره بې غېرته نه دے
چې په پښتو پورې خندا وزغمي.

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# زه د تمامې ورځې ستړے مزدور

زه د تمامې ورځې ستړے مزدور
د شپې ايله کټ ته ځان ورسوم
خو! لامې ډډه لګولې نه وي
لامې په خوب ستړکې ورغلې وي
چې ستا درد ، درد خوارہ يادونه
لکه د لارې ګډواله مسافر
زما د زړه په دامان
اورونه بل کړي خيمې ولګوي
زه د تمامې ورځې ستړی مزدور
په درد بدلي وجود
عن تر سحره پورې ويښ پاتې شم

www.sikaraam.com

# خوب او خاموشي (نظم)

ښځګاه د شپې خاموشي غلې غلې
د رڼو ستورو د رڼا په قدم
زما کوټې ته راغله
دا يې ووې
په يوه ساه يې ووې
ته څه خبر يې کنه؟
په اسمانونو کې جرګه شوې ده
دا فيصله شوې ده
چې څوک به خوب نه وينې
خوب اګهي خوروي
د خلکو خوب تښتوي
خوب د خوبونو باچايي نه مني
د زور خدايي نه مني

www.sikaraam.com

نور به څوك خوب نه ویني
اوس که چا خوب ولیدو
هغه سړي له به سزا ورکوي
هغه سړے به په سولۍ خېژوي
زه د سزا د وېرې وبوږنېدم
یو ساعت وروېدم
د مرګه وېرېدم
دا مې ووې
ښکاره صفا مې وې
چې بیا به خوب نه وینم
خو! چې اوده شومه، په خوب ورغلم
خوب مې ولید
لکه چې خوب زور او زاري نه مني
هېڅ پابندي نه مني.

www.sikaraam.com

# Opportunism

مونږ څنګ خلك څنك سړي يو
لږوني يو
چې د ميني په نوم ننګ شي
د ښائست په وطن جنګ شي
مونږ خبر شو
زر شو ورشو
خپل خانونه لولپه کړو
خپل کورونه خوار خسته کړو
لاړې لړه کړو تالا کړو
غزا وکړو
توره وکړو
چې جنګ تم شي
هر څه سم شي
نو څه داسې خلك راشي
چې د کومې راپيدا شي؟

www.sikaraam.com

خو د جنګ په وخت نه وي
د تاوانه خبر نه وي
خو د هر څه مدعيان شي
مشران شي، منصفان شي
ميدان نيم کړي
هر څه خپلو کې تقسيم کړي
زمونږ مړي مونږ له راکړي
مونږ ته خپل مړي په شا کړي.

Pukhto.Net
پښتو

# یاد (نظم)

خدای خبر ولې خو زه کله کله
یو زوړ ورغلے پرهر وګروم
یو لرې تلے یاد راوګرځوم
یو ستړي شوي غم ته غاړه وځم
یو خوبولې څړیکه وځبرمه
یو غلے شوے درد راوپاروم
د زړه دننه مقبرې ته ورشم
ستا د یادونو ادیرې ته ورشم
په یو پرېوتي خلي وغوړېږم
په یو وران شوي قبر وژاړمه

www.sikaraam.com

# سیند او سمندر

د سمندر او د سیندونو رشته
د زمانو رشته ده
په اوبو جوړه د اوبو رشته ده
دا رشته مه شوکوئ
سیندونه مه بندوئ
مه کوئ مه قیدوئ
د تورو غرونو لېونې سیندونه
پرېږدئ چې خپې په مخه
له کړنګونو نه ټوپونه وهي
روان یې غرونه وهي
خپې په دشتونو کې سفرې کوي
کله په رو کله په منډه زغلي

www.sikaraam.com

د سمندر د جوړېدو په ارمان
د سمندر دنیا ته ځان رسوي
د سمندر په زړه کې ځان ځایوي
د سمندر په زړه کې ځاے جوړوي
سیند سمندر شي لافاني سمندر
د سیند اوبه د سمندر اوبه شي
سیندونه مه بندوئ
د سیند اوبه د سمندر اوبه وي
مه کوئ مه سیندونه مه بندوئ
د سمندره اوبه مه پټوئ
سمندر مه قهروئ
که سمندر غصه شي
دلته راشي
ټول به یوه نعره کړي
هرڅه به غرق اوبه کړي

www.sikaraam.com

# غزل

د زړه زور نوي کومه، مینه ګورمه خان تلم
زه چې اوس هم کله کله د حالاتو سره تلم

هغه مینه، هغه زه یم هغه شپه هغه جنون دی
تلې تلم په تلي کې د پیرونو سره پلم

خپلې لارې ږنومه په ږنا د خپلو اوښکو
نه د نمر پرواه لرمه، نه په ستورو پسې ژغلم

که د ګل ارمان مې هرڅو د پرهر په لمن پټ کړو
خزانو نه خوشکمن وو، خزانو نو خوځارلم

ستا خوږو خوږو خبرو داسې خوږ خوږ شوګیره کړم
چې د اور څادر مې واغوست، په سکروټکو کښې څملم

دا چې اوس یې څه په خوله دي، اوس چې څه ته ږبنتیا وایې
زه په دې د یار دښمن وم، زه په دې اشنا وژلم

www.sikaraam.com

مېخانه وه. لټونتوب و، زه د خانه خبر نه وم
ما به تاته وي کتلي تا په سترګو کې څارلم

تا به هر چاته دروغ وې، ته د هر سړي اشنا وې
ما به هر چاته رښتيا وې، زه خو هر سړي وژلم

خدای بخښلي جنتي دي، څوک رښتوني دي رښتيا دي
ما چې څوک رښتيا منلي، زه چې چا رښتيا ګڼلم

چې احساس لرم منين يم، چې هنر لرم پښتون يم
په سکروټکو کې به اوسم، په انګار کښې به څملم

د حالاتو مصلحت خو د حالاتو په سمون وي
مونږ د مينې لټوني يو، مونږه ظلم ګڼو ظلم

نور څه نه سهي **صابره** خو رښتونې يم رښتيا يم
دومره هر چا پېژندلم، دومره هر سړي منلم

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

څه د جلوس، څه د جلسې، څه د غزا شهیدان
مونږ بې هنرو پښتنو سره بلا شهیدان

په میدان ما جنګوي ماله شاباسی راکوي
خو د میدان په وړش کې نه مني زما شهیدان

زه د خپل یو یو ارمان، یو یو ځلې ښه پېژنم
پخپلو لاسو مې ښخ کړي د وفا شهیدان

مونږه د یو جنګه خبر نه شو چې چا وګټو؟
مونږه د هره جنګه راوړه د دنیا شهیدان

www.sikaraam.com

مونــږ ددې دور د فــرات پــه غــاړه مــړه د تنــدې
مونــږ ددې دور د تـــاریخ د کـــربلا شـــهیدان

خپـل پـردي کـوم یـو زورور پکـې سـر ونـه خـوړو
دا د کابـل شـهیدان ښکـاري پـه رښتیـا شـهیدان

چرتــه د یــو خلـي بــه پورتــه شـي شـغله د رڼـا
په دې تیارو کې دې هېر مه شه د رڼا شهیدان

نــن سـبا د هـر زورور نــه منـي رښتیـا خبــره
مونـږه پــه نـن سـبا کـې واخلـه خامخا شـهیدان.

www.sikaraam.com

# غزل

دا څــه خبــره ده دا څــه اورو دا څــه وايــي څــوك
پښتو به وايي خو پښتـون به ځان ته نه وايي څوك

زمــا ملګــري دې پښتــو وايــي، پښتــون دې منــي
ماتــه دې خيــر دے نومــوړے اديــب نــه وايــي څــوك

دا چــې پــه څلــو يــې د سلو کــالو ننګ تــازه دی
دا څوك وژلے شي دې خلکو ته به مړه وايي څوك

زمونږ سرونه يې په کار وي په مونږ کار نه لري
زمونږ په دور کې چې مونږ ته پښتانه وايي څوك

زه خــو ســره د عقلــه هغســې تکــړې خورمــه
زمــا نصــيبه! ماتــه هغســې سپېره وايــي څــوك

www.sikaraam.com

د زه او تـه نـه خـو زمـا او سـتا قيصـه جـوړه ده
څنګ ګنهګار دي؟ چې په عشق کې خان ته زه وايې څوك

خبـره دا نــه ده چــې خلــك پــه رښتيــا نــه منــي
خبــره دا ده چـــې رښتيـــا خبـــره ووايـــي څـــوك

مونـږ د نظـر پـه جـنګ کـې دغسـې بـايللي زړونـه
چـې د بنـو غشـي وربـړي زړه تـه زړه وايـي څـوك

سـتا هغـه يـو ايمـان، يـوه ژبـه، يـوه خبـره
صـابره! تاتـه بـه پـه دې دور کـې بنـه وايـي څـوك.

www.sikaraam.com

# غزل

د زلفو غر په بله واړوي د غرونو جينۍ
وخاندې بلې کړې لمبې په چنارونو جينۍ

راشي د څان سره بادونه دسپرلي راولي
خداے جوړه کړې د گلونو د رنگونو جينۍ

د زړه په زمکه د تنکو زخمونو کر کومه
گلونه وکرل د کور په ديوالونو جينۍ

اوس تولـه شپه سازونه اورمه سندرې ليکم
مئينه شوې په سندرو په سازونو جينۍ

www.sikaraam.com

چې قدم اخلمه، تالې وهم، ټکرې خورمه
ښنګ زنګولې يم د زلفو په تالونو جينې

ناجوړه نه ده خو زما روغې راستې وهلې
هسې دې نه ګرځې په نورو زيارتونو جينې

اوس په ورغوي کې زما د وينې رنګ پټوي
ګوتې وهلې دي زما په پرهرونو جينې

ما سره غم دے چې د واورو سره واورې نښې
زه يرولے يم د غرونو بارانونو جينې

مينه د ګرانو ګرانه ښنګ اسانوي **صابره**
راغله په ښنګه ګړنګبدلي ګړنګونو جينې

www.sikaraam.com
Pukhto.Net پښتو

# غزل

خدایه خبر چې ځنګ به دې جانانه هېروم
دا به لکه ځان د خپله ځانه هېروم

څوك چې مې په هېره چرې هم هېر کړے نۀ دے
هغه څوك به ځنګه په اسانه هېروم

خوب خو کله هېر او کله یاد څه داسې کېږي
خیال به دې په څه خبره ګرانه هېروم

هرڅه چې یم ستا له برکته یمه عشقه
ستا کومه نیکي به مهربانه هېروم

ووایه چې کله دې د تندې سوے نه یم
کومه ناروا به دې اسمانه هېروم

www.sikaraam.com

ساه که مې څه ده خو ستا په ساه کې ده پوهېږم
څنګه! تا به ولې؟ خپل ارمانه هېروم

لاخو مې د زړه د پرهرونو وينې څاڅي
څنګ به دې د مينې ګلستانه هېروم

مه وايه د خلکو، خلك هرڅه هرڅه وايي
مه مې هېروه. نه به دې جانه هېروم

خم د پښتنو د غرونو کاني ورله وړم
خپل پې مخي لال د بدخشانه هېروم

دا د هېرولو خوی يې ښه نه دی صابره
دا عادت د هغه مسلمانه هېروم

www.sikaraam.com

# غزل

دا ونې بوټي، واورې او ګلونه مې وطن دے
دا غرونه مې هډوکي دي دا خاوره مې بدن دے

بېشکه چې بې وسه يم خو نه دا سې ورک نه يم
په موټي کې مې اوس هم خپله خاوره خپل وطن دے

ته څوک يې؟ څه دې نوم دے؟ څه به ته څه به دې زور يي
ددې خاورې د زور خو نه دهلي او نه لندن دے

دا ته څه يې دا ستا د خانه څه طمع پيدا شوه
زمونږ خو هغه ځان دے چې په دې خاوره منين دے

که لاس دې ورله وروړو د زوره به يې خبر شې
ګرېوان د پښتون مه ګوره که هر څو مره بنيرن دے

www.sikaraam.com

خبر یې چې په دې وطن کې سر لري سردار یې
دا سمه پښتونخواه ده دلته هر څوک قدرمن دے

د مینې په وخت مینه وي د تورې په وخت توره
بس دا زما د قام د هرې نرې پېغلې فن دے

نور نه کښېنې ورځې د مغل خېلو خبر اخلې
خوشحال راپاڅېدلے دے شعلې یې کفن دے

نه، نه زړه په غلطه یې په دې سرې تېروځې
نه دا سړے زه پېژنمه دے خو دروغژن دے

چې هرڅه یمه، یم نه دروغژن نه منافق یم
چې کوم داغ مې په زړه دے هغه داغ مې په لمن دے

د ډېرو پسرلو په دعا جوړ نه شو **صابره**
هم هغسې خوږېږي هغه زخم دے زولن دے

Pukhto.Net

# غزل

چې زما تنهایي ویني ګویا شي
خاموشي د دېوالونو په ژړا شي

زه پوهېږم چې زما د زړه زخمونه
په تودو څڅکو کې ساه واخلي صفا شي

څه یادونه په ما اوس هم خفه کېږي
چې خفه ورته ښکاره شم خواله راشي

مونږ خو دا نه وو چې لارې دې تیارې شي
مونږ خو وو چې ګټ پیرونه دې رڼا شي

www.sikaraam.com

څه پیکه پیکه، لوګي لوکي ماحول دے
کله کله خو مې ساه پکې ساه ساه شي

چې زما دمخه تا سره اشنا شي
مینې هغه خلق تا پېژني ستا شي

کله کله تاته ستا لوظونه یاد کړم
کله کله مې زړه دغسې خطا شي

په لیدو د قامتونو قیامتونو
ګړنګېدلي، ګړنګونه وارخطا شي

چې کوم زخم مې هوا وخوري تازه شي
چې مې کومه څړیکه ساه واخلي ساه ساه شي

مونږ د ځان نه یو، په ځان نه یو **صابره**
مونږ دې وسوزو خو لارې دې رڼا شي

www.sikaraam.com

# غزل

د محبت په تاتره کښې اوسو
مونږه مدام په خطره کښې اوسو

د خپلو غرونو غونډې ورژېدو
په زلزليزه جزيره کښې اوسو

لا خو د ځان په خوږو نه پوهېږو
لا د بارودو په نشه کښې اوسو

لا خو نه کور شته، نه کنډر، نه کلے
لا خو په ورانه اديره کښې اوسو

www.sikaraam.com

د خاموشۍ په سمندر لاهو يو
د زورورو په محله کښې اوسو

دا مونږه خندګه په ځان نه پوهېږو
دا مونږ په کومه زمانه کې اوسو

مونږ به ترڅو داسې ټکرې وهو
مونږ به تر کومې په تيارهٔ کښې اوسو

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

ګورې! خو ګوره د نظره به شي
د سترګو توره د نظره به شي

ستا د اوږدو زلفو بلا واخلمه
ګرځي سرتوره د نظره به شي

څه چې په زخم کښې دې ونغاړمه
د څړيکې شوره د نظره به شي

يوې خندا دې لبوني کړه ياران
مه خانده نوره د نظره به شي

مست ليوني درنه چاپېره ګرځي
د ميني کوره د نظره به شي.

www.sikaraam.com

# غزل

ستړي زبيرګي نه کوي ستم نه کوي
اوس څوك د هيڅ خبرې غم نه کوي

زمکــه هــم هغــه جنتــي زمکــه ده
چې ادم نــه شــته نــو غــنم نــه کــوي

د غنـــډل غـــاړو جينکـــو د غمـــه
ورشـــو غمژنـــه ده شړشـــم نـــه کـــوي

زړه هغه وايي چې څه نه وايي څوك
هغــه کــوي چــې څــه عــالم نــه کــوي

www.sikaraam.com

لـــه دوزخونـــو يربـــدلي خلـــك
پـــروا د ژونـــد د جهـــنم نـــه کـــوي

ډېـــرې خبـــرې د يـــارانو ښـــه دي
څـه کـه يـو څـو کارونـه سـم نـه کـوي

د محبـــت دنيـــا بدلـــه شـــوله
اوس څوك د درد علاج په دم نه کوي

زړونـه بې خـوږو شـو غـم نـه پېژنـي
سـترګې د کـانو شـولې نـم نـه کـوي

صـابره! سـتا مينـه مـې ومنلـه
غـم تـه غـم وايـي خـو مـاتم نـه کـوي.

www.sikaraam.com

# غزل

په ځان مئین یم په ځان ننګ کومه
د شکستونو سره جنګ کومه

د لونګین د لړه پرېوتمه
لوږله راغلی یم لونګ کومه
هغه د څه خلکو په زړونو کښې وي
زه چې خبره د کوم زنګ کومه
څنګ به د مینې رڼا نه ستایمه
څنګ به د خپل ارمانه څنګ کومه
چې د خوشحال منم، خوشحال منمه
څنګ به ستاینه د اورنګ کومه

غم له د زړه د وینو رنګ ورکوم
د ژوند قیصه په نوي رنګ کومه

www.sikaraam.com

# غزل

څه محبت څه انتظار يې کړې
زړه چې د کار و نو څه کار يې کړې

مينې د چا خبره نه منله
د خپل اختياره وه خپل اختيار يې کړې

د محبت خونه چې ورانه. نه وه
هر سړے بنه وې څه روزګار يې کړې

ساده مئينو پته څه پېژندہ
که بغاوت وې خوپه جار يې کړې

درد د پرهر آئينه وځندله
لکه سپرلے چې وي سينګار يې کړې

څريکې زما د زخم زړه ته کتل
زړه يې بې واره وې خو وار يې کړې

www.sikaraam.com

ستا د ښنا ښست د ښڼ د باده لوګے
زما چې یاد شي نو شغار یې کوي

ستا د قامت قیصه مې هېره نه ده
څه هنګامه وه، څه ناتار یې کوي

په غېږ او غوږ چې پابندي وه سره
پوڅو مارغان وو چې چغار یې کوي

د هر یزید په لاس د هر بیعته
زما یاران وو چې انکار یې کوي

دا به صابر وي ښه ده پوهه شومه
چې خوب یې نه وي انتظار یې کاوه.

www.sikaraam.com

# غزل

څــوك نــازولې نازنينــــه غـــواړي
زړه چې دعـا غـواړي پـه مينـه غـواړي

د ګلـو لښتـه خـو بـه خداے پوهـه کـړي
د ګلــو قــدر د ګــل چينـــه غـــواړي

زمـا پـه سترګو ګښې چې څان ووينې
هغــه ورځ ډېــر څـه د ائينـه غـــواړي

د زړه پـــه زمکـــه پـــه زخمونـــو کـــړي
هــر څـوك چې دا دنيـا حسينه غـواړي

www.sikaraam.com

مینــه مــې هغســې ساده سپن زړې
د یــارانې خبــره سپینه غــواړي

د لېونــی مینــې بــلا ورکــه شــه
فرهــاد د غرونــو نــه شیرینه غــواړي

**صــابره** میــنې پــه غــم واړولــو
پرهــر چې خولــه پرانیــزي وینــه غــواړي

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

د شوخه شورې چې خبرې کوي
بانه يې اورې چې خبرې کوي

يا لوېتمه مرورې يا شوندې چيچي
لفظونه زورې چې خبرې کوي

د پرهرونو ژبې ګونګې بنه دي
د سترګو تورې چې خبرې کوي

www.sikaraam.com

د خلکو یره یې په سترګو کښې وي
چاپېره ګوري چې خبرې کوي

د چنار سیوري له هیبته رپي
د بڼو سیوري چې خبرې کوي

د انتظار مزه په هغه شپه وي
شوګیر او ستوري چې خبرې کوي

رنګ د رنګینو لوپټو یادوي
منین سرتوري چې خبرې کوي

www.sikaraam.com

## قطعه

د الفت سیوري لـه سترې سترې راشم
لکـه سوړ اسویلے ساه واخلم دمـه شم

د زخمونـو خـادر واغوندمـه خملـم
د دردونـو سترګې پټـې کـړم اوده شم

www.sikaraam.com

# غزل

د زمـــانې د ســترګو رنـــګ اخلـــي
زمـــا د زړه آئينـــه زنـــګ اخلـــي

پـــه لونګينـــو غـــاړو ويرېـــږي
د پــر ســوداګر ګرځـــي لـــونګ اخلـــي

د محبــت قصـــه بـــه څـنګ نـــوې شـــي
نـه څـوك ګـودر لـه ځـي، نـه بـنګ اخلـي

www.sikaraam.com

چې سره مهران په کهسار تنوځي
بهرام خوشحال پرېږدي اورنګ اخلي

د لېونو سترګو د زوره لوګے
د ملنګانو نه قلنګ اخلي

سړے به څه چا سره مينه کوي
سړے به څه د کلي جنګ اخلي.

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

چې په نصیب شوه د اسمانه شوله
لکه زمونږ روزي چې ګرانه شوله

چې بې جنونه، بې جانانه شوله
دنیا خو دغه وه چې ورانه شوله

لاره وه، ستوري وو اسمان وو، شپه وه
خبره پاتې د کاروانه شوله

تنکي تنکي زخمونه وتوکېده
د انتظار صحرا ودانه شوله

عقله په تا چې مې باور کړے دے
هغه سودا مې د تاوانه شوله

ستا په خورو زلفو کښې "خو" لټوي
آئینه ماته که حېرانه شوله

www.sikaraam.com

ما یې په سترګو کې تصویر جوړه و
هسې شکي شوه بدګمانه شوله

چې مینه خواره شوه که خوار شو زړونه
د غم سودا څنګه ارزانه شوله

وربخو رنګ واړو، پوهه شومه
په مېخانه څوك مهربانه شوله

د رقیبانو جوړه کړې دنیا
په اسویلي د مئین ورانه شوله

ستا د بڼو د بڼه ونه وته
سودا که هر څو پرېشانه شوله

د درد بدلي زړونو خدای اسره شه
دنیا که ډېره بدګومانه شوله

www.sikaraam.com

د پرهرونو د ګلونو خندا
د ګورو زلفو د بارانه شوله

وربخې راغلې چې راورسېده
باران رانښکې شو چې روانه شوله

بس چې ناڅاپه مخامخ شو سره
سترګې زرې شوې مينه ځوانه شوله

مونږه د خپلو زړونو ومنله
په مونږ چې ورانه شوه د خانه شوله

د نفرتونو تيارې وتمبېدې
چې د الفت شيمع روښانه شوله

اوس يې د زړه په رضا پوهه شومه
صابره اوس مينه اسانه شوله.

www.sikaraam.com

# غزل

وخت د ګیلې نه دے ګیله نه کوي
اوښکې مې اوس په بڼو شپه نه کوي

غم چې د زړه د ځیګر لاړ ولیده
اوس مې په سترګو کښې دمه نه کوي

ما په تنکي زخم کښې وکرله
څړیکه به ولې سره لمبه نه کوي

اوس په ککو کښې زما نوم نه لیکي
اوس په بڼو کې اشاره نه کوي

د محلونو رڼا ولمسوو
ګل د پرهر سره رشته نه کوي

Pukhto.Net

زما د ښار په هوا څه شوي دي
ستا د ښو د بڼ قصه نه کوي

خلک د شپې خاموشۍ وو پرول
اوس څوک د مينې وظيفه نه کوي

د مغل خيلو پره ورکه شوله
پښتانه جنګ په تاتره نه کوي

دا به صابر ژاړي غزل به ليکي
بل څوک شپه نه خوري، شوګيره نه کوي.

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

څنګه چې بې زړه شوه، داسې خو نه وه
مــه چې څه شوه، داسې خو نه وه

تــه سره لمبه شوې زه لوګے نـه شوم
دا څنګــه وشــوه، داســې خــو نـــه وه
پــه څـه خفـه ده، چې ماتـه ګــوري
د قهـره سـره شـوه، داسې خـو نـه وه
مخـې لـه راغلـه، پـه مخـه لاړه
دا خـو ونـه شـوه، داسـې خو نـه وه
میـنې مـړې شـوې، زړونـه مـاړه شـو
دنیـا چې څـه شـوه، داسـې خـو نـه وه

پـه هـر خفګـان مـې اوس خفـه کېـږې
دا څنګـه بنـه شـوه داسـې خـو نـه وه.

www.sikaraam.com

# غزل

هغه رنګينه رنګونه، نه وينو
نه به وي سپرلي ګلونه، نه وينو

اوس د ژوند د ونې په ښاخونو کښې
زوړند د الفت تالونه، نه وينو
کښېنه چې زاړه وختونه راولو
مه ځه چې زاړه ځانونه، نه وينو
زړونه د يادونو خزانې لرو
هسې خو خواږه خوبونه، نه وينو
لا په سر کښې سر د محبت لرو
لا د ځانه لوړ سرونه، نه وينو

ګل وينو خو! سترګې لرو زړه لرو
څنګه به د ګل زخمونه، نه وينو.

www.sikaraam.com

# غزل

ښکـــاري ځـــه بـــلا بدلـــه شـــوې ده
مینـــه د دنیـــا بدلـــه شـــوې ده

دا او هغـــه تـــولې قصـــې نـــورې دي
هغـــه ده کـــه دا بدلـــه شـــوې ده

نـــوره پـــه تعویـــذ د مـــلا نـــه کېـــږي
مینـــه پـــه ربښتیـــا بدلـــه شـــوې ده

پرېـــږده د پـــرون خبـــره بلـــه وه
نـــن د نـــن ادا بدلـــه شـــوې ده

www.sikaraam.com

هــر خــوا توپانونـــه، توپانونـــه دي
هــر چرتـــه هــوا بدلـــه شــوې ده

زه او تـــه کـــه نـــه بـــدلېږو څـــه وشـــو
ستـــا او زمـــا ســـا بدلـــه شــوې ده

خيـــال يـــې د پرونـــه بـــدل شـــوےو
ژبـــه يـــې بېګـــا بدلـــه شــوې ده

هـــــره انتهـــــا بدلـــــه وګنـــــه
هـــــره ابتـــــدا بدلـــــه شــــوې ده.

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

زلفې دې مه خندره چې نه خورېږي
له خورو زلفو نه مې زړه خورېږي

خپل محفلونه خو به ګرم ساتو
چې محفلونه شي ساړه خورېږي

ستا د قامت رنګ مې په سترګو کې وي
لړه خورېږي که تياره خورېږي

مينه د ښار ترخو لوګو وخوړه
د ژوند رګونو کښې تراخه خورېږي

www.sikaraam.com

# غزل

Pukhto.Net

زلفې دې مه څنډه چې نه خورېږي
له خورو زلفو نه مې زړه خورېږي

خپل محفلونه خو به ګرم ساتو
چې محفلونه شي ساړه خورېږي

ستا د قامت رنګ مې په سترګو کې وي
لړه خورېږي که تیاره خورېږي

مینه د ښار ترخو لوګو وخوړه
د ژوند رګونو کښې تراخه خورېږي

# غزل

رنـــګ د مېکـــدې پـــه بلـــه واړوه
وخانـــده کاســـې پـــه بلـــه واړوه

ګـورې ګـورې زلفـې لـړې څنـډ وهـه
غرونـه غرونـه شـپې پـه بلـه واړوه

راشـه د رنګونـو سـپرلي راولـه
داسـې دا کـوڅې پـه بلـه واړوه

مـات زړونـه پـه مست نظر کې وېـره
ورانـې ادیـرې پـه بلـه واړوه

www.sikaraam.com

عشـــقه دا زړه دنيـــا بدلــــه کـــړه
خيـــال د زمـــاني پـــه بلـــه واړوه

بيـــا دې د کتـــو ادا بدلــه کـــړه
بيـــا مـــې ارادې پـــه بلـــه واړوه

پرېـــږده چې رڼې شي د رڼا قصې
راشـــه تماشـــې پـــه بلـــه واړوه

Pukhto.Net
پښتو

## غزل

بانه دې مه خندېږه چې نه پرېوځي
ستا د بنو سره مې زړه پرېوځي

ستا د قامت ونه ولاړه اوسه
زما د سر سوري دې نه پرېوځي

د محبت خېمه په سر ګرځوم
موسم يخ زړي دی ساړه پرېوځي

د مازيګر دنيا بدله شوله
په ګودرونو زانې نه پرېوځي

په قامتونو قيامتونو منين
له ګړنګونو نه په څه پرېوځي

www.sikaraam.com

# غزل

د پرهر څرېکې څرېکې شور يې کړمه
ښاپست دې اور واخيسته اور يې کړمه

د مينې تور عجيبه تورقه وکړه
د لبونو د سترګو تور يې کړمه

ما يې په تورو زلفو ملا تړله
د سپينو سترو د پېغور يې کړمه

د پښتنو غرونو د زوره لوګي
د لېونو سيندونو شور يې کړمه

www.sikaraam.com

وخت دې ښکلا يـه سـترګې نـه نـوروي
نـوره بـه ګرانـه شـي کـه نـور يـې کړمـه

بانـه يـې وخوځـول ويـړيـدم
زلفـې يـې ځنـډ وهلـې خـور يـې کړمـه

ډېـر کـه مـې سـتا د غـم ټکـور ورکـاوه
درد زوروروه کـر و کـور يـې کړمـه.

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

څـــه زوروري وې څـــه زور يـــې کـــوه
ســـترګو دې اور وره و اور يـــې کـــوه

انتظـــار ســـتا بـــې لـــوظې څـــه کولـــه
زه يـــې وژلمـــه پېغـــور يـــې کـــوه

مـــا د زخمونـــو ژبـــې وتـــړلې
مـــا لـــه يـــې شـــر جـــوړوو شـــور يـــې کـــوه

ګـــل پـــه ورغـــوي کښـــې پرهـــر ګرځـــوو
ســـينګار زمـــا د زړه د کـــور يـــې کـــوه

www.sikaraam.com

غم هېرول هسې خبره نه وه
پرهر چې خواله وروسته اور يې کړه

ستا د تنکۍ مينې د تاوه قربان
زما د زړه د درد تکور يې کړه

د ځوانۍ خوب يې ويښوو **صابره**
مينې مستي کوله شور يې کړه

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

چې ستا د سترګو د نظره نه وه
هغه نشه، نشه د سره نه وه

ستا د خواره وربله نه تېرېده
د ګل ورږمه دومره بې سره نه وه

په رقيبانو چې مې جنګ با پللو
ما سره ستا د رضا زغره نه وه

په څه خبره چې خفه شو سره
هغه خبره څه خبره نه وه

www.sikaraam.com

په نوم یې ښکلو قسمونه خوړل
مینه مې دومره بې باوره نه وه

ستا د ښو په شر یې واړولم
څریکه لاوتې د پرهنره نه وه

خان ته مې ستا خبره څنګه کړې وې
چرته ستار، چرته سندره نه وه

زما د زړه رضا یې نه کوله
دنیا زما غوندې بې سره نه وه

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

د ستړګو جنګ د ښو زغرې غواړي
مینه د مینې څو خبرې غواړي

زلمي په غرونو کې غمي لټوي
پېغلې لونګ غواړي ګورګورې غواړي

د ادم خان له ګوتو دم وتی دے
درخو رباب غواړي سندرې غواړي

مونږه ګلونه پرهرونه وښو
دنیا لعلونه ملغلرې غواړي

www.sikaraam.com

ترخو حالاتو ترخې کړې ژبې
د مینې شکور غواړي شکرې غواړي

د پرهرونو د سپرلي بادونه
د غم جاګیر، د غم دوترې غواړي

د خپل اختیار د اسمان سیل **صابره**
خپلې بڼې، خپلې وزرې غواړي

Pukhto.Net پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

خدای خبر دوی ته به ځان څه ښکاري؟
چاته چې ظلم، ظلم نه ښکاري

د پرهرونو جامې اغوندمه
موسم یخ زړې دے ساړه ښکاري
لکه د درد دنیا مې کمه شوله
ګوره شراب راته تراخه ښکاري
په چمن څه نوې هوا الوځي
ګلونه لړ غونډې رانه ښکاري
لا یې یوه خبره سمه نه ده
لا خلک هغسې کاږه ښکاري

چې د دنیا خلکو ته وګورمه
دا خپل ملګري راته ښه ښکاري

www.sikaraam.com

# غزل

په دنیا کې د دنیا د غمه تنګ یم
چې یوازې یم د ځان سره په جنګ یم

په کوځه د لونګینو غاړو راغلم
ټول وجود مې خوشبویي کوي لونګ یم
چې د مینې لپوني رانه زاریږي
زه د کوم ګودر د کومې غاړې بنګ یم
ته په څه داسې غاوره شوې بدل شوې
زه خو هغسې باچا یم چې ملنګ یم
د ازغي سره چې ولګمه ګل شي
په رښتیا د محبت په رنګ کښې رنګ یم
زه د هغې نومه هغسې زاریږم
چې د ځنګه یې موده وشوه په ځنګ یم

د **صابر** سترګو کښې ټوله شپه غریږم
پوهه نه یم چې رڼا یمه که رنګ یم.

www.sikaraam.com

# غزل

د ګلونـــــه ډيـــــوې بلـــــې تماشـــــې دي
څه زخمونه څړيکې څړيکې دي لمبې دي

دا چې ستر ګې مې اوچتې دي رڼې دي
روڼې کړي مې په نره توري شپې دي

چې په غم د غم خپلو غمژن نه وي
هغـه زړونـه، زړونـه نـه دي اديـرې دي

د مانو سوررو لـه مـه ورځـې ملګـرو
خلـك وايـي چې راتلـونکې زلـزلې دي

ته په ډېر څه کښې اشنا د لوړې مړ شوې
زه کـه وړے يم خـو سـتر ګې مـې مړې دي

www.sikaraam.com

چې زما د وینو څاڅکي پکښې رېي
د تیارو سترګې که تورې دي رڼې دي

د رڼا فصل تولېږي سباوون دے
اوربدلې مې د ستورو ګنګوسې دي

نوې سترګې نوے نوے نظر غواړي
په دنیا کښې نوې نوې تماشې دي

اوس د ښار او کلي دومره فرق نشته
اوس د ښار او کلي څومره فاصلې دي

ما د مینې سمندر له خانه تاو کړو
زه خبر یم چې د ژوند شګې تودې دي

څه چې ورشو د صابره به څه واورو
خلك وايي چې خبرې یې خوږې دي.

www.sikaraam.com

# غزل

شر دې سر وخوري خو د شوره وځي
مینه د کلي د پېغوره وځي

چې ځړیکې ځړیکې پرهر خوله وروڵي
لکه چې درد د زړه د زوره وځي

ځم که په تیارې د دعا وترم
درد دومره د پر ځو د ټکوره وځي

هر چا د خپل زړه لامکان ونیو
هر څوك د خپل احساس د اوره وځي

Pukhto.Net
www.sikaraam.com

په سترګو لاس ږدمه چې ونه وځي
ستا د رنو سترګو د توره وځي

بهر د زړه خوږېدو څه پاتې دي
سرې په څه پسې د کوره وځي

غندل غندل ارمان به نه ژاړمه
چې د کږو وروځو د توره وځي

رو رو رغېږي هوښيارېږي سړے
ښکاري صابر د زړه د زوره وځي

www.sikaraam.com

# غزل

ستړی ستومانه چې د کاره راځم
تا یادومه چې په لاره راځم

د ارمانونو پنډ په سر راوړمه
کور ته چې هر ماښام د ښاره راځم

د کلي ډېرې لارې ډېرې کوڅې
په دې کوڅه د چا دپاره راځم

د پرهرونو جامې واغوندمه
چې په سپرلي کښې د ګلزاره راځم

څه نوی غم نوې سودا راوړمه
چې د حالاتو د بازاره راځم

د مېخانې دروازه مه بندوئ
یارانو زه به د روزګاره راځم

www.sikaraam.com

# غزل

بـــد لېونـــې شـــو انتظـــار نـــه کـــوي
درد يـــوه شېبکـــه ده قـــرار نـــه کـــوي

اوس مـــې د زړه پـــه رضـــا پوهـــه شـــوله
اوس چې په تلو کې شي تلوار نه کوي

ســـتا د وعـــدې پـــه تـــار تړلـــې زخـــم
مـــا ژړوي ســـپرلي تـــه وار نـــه کـــوي

خمـــارې ســـترګې د نظـــره شـــولې
کجيـــر بانـــه د زړونـــو ښکـــار نـــه کـــوي

www.sikaraam.com

اوس خو دې کله کله هېر هم کړمه
اوس مې زړه کله کله کار نه کوي

د زمانې هوا بدله شوله
څوک په قسم باندې اعتبار نه کوي

داسې د يو بله ماړه شو خلك
څوك د يو بل سره روزګار نه کوي

اوس په دنيا پورې زړه نه تړمه
اوس مې دنيا ته زړه ازار نه کوي

خدايه خبر څوك به څه معنا ورکوي
سړے د دې غمه اظهار نه کوي

لکه چې بيا هغه تصوير جوړوم
**صابره!** بيا مې ګوتې کار نه کوي

www.sikaraam.com

# غزل

د ردې کفـــــر کلـــــيمې ورځــــــي
خلکــــو لـــه څـــه بـــلا قصنــــې ورځـــي

مونـږ کـــه ګناه وکـړه خـو کفـر بـه وي
شـيخ کـــه ګنـــاه کـــوي تـــوبې ورځـــي
د واعـــــظ هـــــره فلســــفه د فســــاد
واعـظ لـه نـور څـه خـو فتـنې ورځـي
د محتسـب پـه توبـه مـه تېـر وځـه
ځـي مېخـانې تـه خـو د شپې ورځـي
هغوی په هر موسم کښې سپين سپېڅلي
هغـوی لـه هـر رنـګ قصيدې ورځـي
سـړے چـې وځـي د رنـا پـه لټـون
مخـې لـه څـه نـا څـه تيـارې ورځـي

هغـــه زمـــوږ د زړونـــو غـــلا پېژنـــي
هغـــه لـــه نـــاز ورځـــي، نخـــرې ورځـــي.

www.sikaraam.com

# غزل

د سرو لمبو د غرغرو د شوره نه دي خبر
دا څوك چې جنګ غواړي د جنګ د زوره نه دي خبر

زما د کور د ورانولو په ارمان لبوني
د خپل ارمان د ورانېدونکي کوره نه دي خبر

د خاموشۍ په تقدس ایمان لرونکي خلك
د لړزېدلي، لړزوونکي اوره نه دي خبر

زما بچي لا د ګودر اور اورکي یادوي
دوی په ګودر د لګېدلي اوره نه دي خبر

www.sikaraam.com

دومره خبر یم چې د تورو نه یې وینې څاڅي
دومره پوهېږم چې یاران په نوره نه دي خبر

چې د چا زړه ورانوي څنګه به مانۍ جوړوي
چې د بل بد کوي د بل د پوره نه دي خبر

دا خلک دومره د نفرت په ګناه مه ګرموه
دوی ته ګناه نه شته **صابره** وروره نه دي خبر

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

د ښاپستونو څه معلومه ده چې څه به کوي
د تندرونو څه معلومه ده چې څه به کوي

له کومو زړونو چې بې دردو خلکو لوېې وکړې
د هغه زړونو څه معلومه ده چې څه به کوي

څئ چې د خپلو ارمانونو ستوري ولټوو
د اسمانونو څه معلومه ده چې څه به کوي

په سرو ګلونو خو سيلۍ والوته ورژېدل
د پرهرونو څه معلومه ده چې څه به کوي

څئ چې د زړونو زمکې واړوو سپرلي راولو
د بارانونو څه معلومه ده چې څه به کوي

www.sikaraam.com

دا چې دنیـا پـه ځـان د خپلـه زوره ولګـول
ددې اورونـو څـه معلومـه ده چې څه بـه کـوي

که ستوري نه وي ځو ورځو اورورکي رانیسـو
د ماښـامونو څـه معلومـه ده چې څه بـه کـوي

مـا پـه ورغـوي کښـې ډیـوه د محبت ونیـوه
د توپـانونو څـه معلومـه ده چې څـه بـه کـوي

د چا د خولې په خاموشۍ دې سړے نه تېروځي
د چا د زړونو څه معلومه ده چې څه بـه کوي

د ځړیکو فصل مې سنبال کړو د پرهر په اوبـو
د بـارانونو څـه معلومـه ده چې څـه بـه کـوي

د زړه داغونه څو بـه څه سړے په زړه وسـاتي
د شنو خالونو څه معلومه ده چې څه بـه کـوي.

www.sikaraam.com

# غزل

د محبت لمن چې چا ونیوه
وایه چې لار یې د رښتیا ونیوه

هر سړی الوځي هوا رانیسي
هر چا د ګوتې نه بلا ونیوه

په کاڼو بوټو کې تیکرې ګوري
ستا لېوني د ګودر خوا ونیوه

تا په خندا خبره وارولـه
ما په ژړا ژړا کښې سا ونیوه

www.sikaraam.com

اوس دې الـوځي چـې سيلۍ الـوځي
مـا پـه ورغـوي کښېښـس رنـا ونيـوه

دا خلـک دغسـې څـه چـل جـوړوي
دې خلکـو دغسـې دنيـا ونيـوه

ښـو لـه خنـد ورکـړه کـه سـا واخلمـه
مـرم د پرهـر خـړيکې مـې سـا ونيـوه

اوس رالــه سـترګې پټـوي صـابره
ما يې پـه سترګو کې څـه غلا ونيوه

Pukhto.Net
پښتو

# غزل

څوک یې اشرو لـه بلي څوک تـرې لښکر جـوړوي
هـــر زورور د پښتنـــو دپـــاره شـــر جـــوړوي

د پښتنـــو زمکـــه بـــه څـــه فصـــلونه وتوکـــوي
څوک پکښې جنګ جوړوي څوک پکښې سنګر جوړوي

جنګ به زمونږ نه وي خو مرو به پکښې مونږ لېوني
څوک چې ختن اخلي مورچه به په خیبر جوړوي

پښتانـــه دې جنګونـــو داســـې خـــاے تـــه ورســـول
چـې خپـل کورونـه ورانـوي بـل لـه دوتـر جـوړوي

دوی که چا دې زمکې تـه پرېښوده اسمان تـه رسي
دا پښتانـــه ددې پـــرتې خـــاورې نـــه زر جـــوړوي

www.sikaraam.com

وخت چې په ما د څه احسان کوي نو داسې کوي
مانه څرمن وباسي ماله تري څادر جوړوي

هېڅ پوهه نشمه چې څنګه پکښې ونښلمه
ما له چې څوك دام جوړوي ډېر يې په هنر جوړوي

د جانان دا نوې ادا دې د نظره نه شي
زما د اوښکو د بارانه سمندر جوړوي

داسې څوك نه شته چې په دې وراني کښې لاس نه لري
داسې څوك نه شته چې کابل او پېښور جوړوي.


www.sikaraam.com

## غزل

زړه خو چې تا په مخه واخیستمه
ټولې دنیا په مخه واخیستمه

زه پخپل ښار کښې لکه ورک لیونے
داسې سودا په مخه واخیستمه

څه د ارمان دعا قبوله شوله
غم په رښتیا په مخه واخیستمه

ما یې ایله د ښو جنګ ولیده
زه یې بېګاه په مخه واخیستمه

www.sikaraam.com

نن د احساس ګرېوان ته لاس اچوم
نن يې صفا په مخه واخيستمه

د اسمانونو زور ته ودرېدمه
خو ستا ادا په مخه واخيستمه

خپلو خيالونو د نظره کړمه
خپلې رنا په مخه واخيستمه

د خورو زلفو لېونو خيالونو
څه وارخطا په مخه واخيستمه

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

د پرهر د ځړیکې ځړیکې نه چاپېر شم
کله کله د یو داسې درده تېر شم

ستا د زلفو ارمان راولي را یاد شي
چې د سترې اسویلي په ول کښې ګیر شم

ته مې په هېروه ستا نه دې هېر نه شم
په دې نه یم که د نورو خلکو هېر شم

ستا په زړه کې خو مې ځاے د زړه پیدا کړو
اوس په مینه کې بالا یمه که زیر شم

www.sikaraam.com

زه د مینې د ارمـــان د ســپرلي ګـــل یــم
مـــا کـــه ډېـــر بادونـــه ودوړوي ډېـــر شـــم

د کـــرږو بڼـــو تېـــره غشـــي پـــه زړه خـــورم
د وفـــا پـــه شـــهیدانو کـــې بـــه شـــمېر شـــم

چـې پـه کلـي کښـې څـوك ګورمـه **صابره**
د هغـه سره پـه لار کښـې تېـر و بېـر شـم

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

کله یې سره کله د سرو سپینو لښکر ووهي
دلته په دې خاوره مښن د چا نظر ووهي

ماله د غرونو د مرغیو د غمه خوب نه راځي
چې څوك ظالم چرته په غرونو کې نښتر ووهي

چې پکښې هغه یاران، هغه محفلونه، نه وي
سړے به داسې پښور ته څه چکر ووهي

ستا په تکل د خپل وجود سیوري ته ودرېدمه
سړے ستومانه شي چې دغسې سفر ووهي

ستا د بڼو د لښکر هره قصه نوې قصه
کله مې زړه ورانوي کله مې سنګر ووهي

مونږه چې روغ یو خو زمونږ د جواب هیڅوك نه وي
مونږه چې وران شو نو سیکان هم پښور ووهي

**صابره** بیا به د دنیا زورور وپېژني
خداے دې هوښیار که چې میخونه دې په سر ووهي

www.sikaraam.com

## ستوماني (نظم)

د عمرونو داسې ستړې
د مودو داسې ستومانه
چې د چا په زلفو کېوځم
چې د چا په خنګل پرېوځم
هلته ساه واخلم دمه شم
سترګې پټې کړم اوده شم.

## رښتیا (نظم)

تاریخي حقیقتونه
انساني صداقتونه
په ناجانو دلیلونو
په خیرنو نظرونو
خړېدے شي، تورېدے شي
خو! بیخي ورکېدے نه شي
همیشه پټېدے نه شي.

www.sikaraam.com

## د امید ډیوه (نظم)

د تیارو په سمندر کښې
د رڼا یو نرۍ کرښه
د امید بله ډیوه شوه
ډوبېدونکو له اسره شوه.

## ګناه (نظم)

د تاریخ د فلسفې نه
د کتاب د مسئلې نه
د انسان د تجربې نه
د غنمو د دانې نه
ما یوه خبره زده کړه
په یوه خبره پوه شوم
چې ګناه هم د کار شے دے.

www.sikaraam.com

## وسوسه (نظم)

اوس خو هرڅه دي شپه ده
انتظار که شوګیره ده
خو! څه طمعه ده اسره ده
د امید غېږ پرې توده ده
د ارمان په مخ به څه وي
که سحر شي رڼا نه وي.

## انتظار (نظم)

زما سترګې خوبولې
انتظار شوګیر خوړلې
که بې دمه، بې مزې دي
یو دوه اوښکې خو پکښې دي
دا به تا پورې ساتمه
دا به تاته څڅومه.

Pukhto.Net

www.sikaraam.com

# غزل

د انتظـــار پـــه غرغـــره تېـــره شـــوه
پـه مـا بېګـاه زبونـه شپه تېره شوه

چا مې په څنګ کښې ستوماني ووېسته
څـــه زوروره زلزلـــه تېـــره شـــوه

لکـه چې بيـا د خانـه نـه وئم خبـر
لکـه چې بيـا هغـه کوڅـه تېره شوه

مـا او هغـې يـو بـل ليـدلي نـه دي
کلونـــه وشـــو زمانـــه تېـــروه شـــوه.

www.sikaraam.com

# غزل

ستا د وعدو خبرې پټې ساتو
د پټېدو خبرې پټې ساتو

خپلې به څه وايو چې خپلې مو دي
مونږ د پردو خبرې پټې ساتو

د پرهرونو خولې ګنډلې ساتو
ستا د بڼو خبرې پټې ساتو

په تورو زلفو مو قسم خوړلے
د سپينو خولو خبرې پټې ساتو

www.sikaraam.com

د سپکو خولو د یرې ویرېدو
اوس د زړګو خبرې پټې ساتو

خلك زمونږ رنګونه وپېژني
مونږ که هرڅو خبرې پټې ساتو

د واعظانو د فتنو یرېږو
د مېکدو خبرې پټې ساتو

د زړه د درده خلك نه خبروؤ
د اسوېلو خبرې پټې ساتو

Pukhto.Net
پښتو

# د سمندر هوا بدله شوله

د ســـمندر هـــوا بدلـــه شـــوله
مونـږ سره هيڅ د يارۍ دود نـۀ کـوي
پــه ســمندر کښــې غورزنګونــه وهــي
پـه مونـږ د ځاځکي اوبـو سود نـۀ کـوي.

د ســـمندر هـــوا بدلـــه شـــله

پــه مونـــږ چيتـــر، پشـــکال نـــۀ وروي
مونـــږ د چينـــو رڼـــو اوبـــو پســـې مـــرو
زمونـــږ نـــه تېـــرې قصـــې هېـــرې شـــولې
مونـــږه د ژمـــي پـــه جـــړو پســـې مـــرو
مونـــږ د ســـوکړې لـــه تـــاوه ورك لېـــوني

www.sikaraam.com

هغـــه پـــه بلـــه وربـــځ وړي وربـــړي
مونـــږ پســـي د بـر مـــخ پـــه قبلـــه اووتـــو
هغـــه زمونـــږ نـــه پـــه څـــنګ ځـــي وربـــړي

## د ســـــمندر هـــــوا بدلـــــه شـــــوله

د ســـــمندر هـــــوا بـــــه نـــــه بدلـــــده
مونـــږ د ژونـــد کومـــه تبـــاهي ونـــه کـــړه
مونـــږ پـــه دې خپلـــه زمکـــه څـــه ونـــه کـــړه
پـــه مونـــږ دې بـــل څـــوك ولـــې زړه وســـېزي
مونـــږ چـــې د خپـــل ځـــان ســـره ښـــه ونـــه کـــړه
مونـــږه د غرونـــو ونـــې وســـيزلې
مونـــږ خپـــل ســـيندونه د خزلـــو ډك کـــړل
مونـــږه د کـــر زمکـــه پـــه کـــور ونيـــوه
د ونـــو ســـيوري مـــو د ســـره ور کـــړل

## د ســـــمندر هـــــوا بدلـــــه شـــــوله

زمونـــږ د زمکـــې پـــه مـــخ نـــه الـــوزي
زمونـــږ د بـــرخې اســـمان نـــه بربښـــوي

www.sikaraam.com

زمونـږ د زړونـو چيـنې نـه تانـدنوي
پـه مونـږ د ميـنې بـاران نـه وروي

د سـمندر هـوا بدلـه شـوله

زمونـږ د غرونـو واورې ويلـې شـولې
زمونـږ د كـانو نـه خـولې ووتـې
زمونـږ د غرونـو ونـو اور اخيسـتې
د شـنو نبتـرو نـه لمبې ووتـې

د سـمندر هـوا بدلـه شـوله

زمونـږ تنكـي فصـلونه ودوړيـده
زمونـږ د بـرخې اوبـه وسـوزيدې
پـه مونـږ لمـر يـوه نېـزه رابنكتـه
زمونږ ځـه وينې تويې ځـه وسوزيدې
زمونـږ تنكـو ګلونـو سـاه وركړلـه
زمونـږ تنكـى ممـانې ودوړيـدې
زمونـږ مرغـى لـه تنـدې وسـوزيدې
زمونـږ د ونـو پـانې ودوړيـدې

www.sikaraam.com

## سمندر هوا بدله شوله

زمونږ له اوره ایرې نه اړوي
زمونږ د سترګو لوګي نه پاکوي
زمونږ په زړونو دیرې نه اړوي
مونږه د کلو کوڅې تنګې کړلې
مونږ د ښارونو انتظام ونه کړ
مونږه هرڅه په خپله ښه راوستل
مونږه د هیڅ سره ناکام ونه کړه
مونږه د غرونو ونې ووهلې
مونږه په ښار کښې کارخانې جوړې کړې
مونږ د کلونو دکانونه وران کړل
مونږه هر ځاے مسترې خانې جوړې کړې
مونږ د کیلو جړې ویستلې
مونږ په باغونو کې بنګلې جوړې کړې
مونږه په ښار کښې خالي ځاے پرېنښود
مونږه په هر ځاے کښې پلازې جوړې کړې
مونږه د کرش په مشین وخیرلې
د خپلو غرونو د ښیونو سینې

www.sikaraam.com

پـه بلـډوزرو مـو ذرې ذرې کـړې
د سـرو ګلونـو د تخمونـو سـينې

د سـمندر هـوا بـه نـه بدلېـده
مونـږ د هوا پـه مخکښې څـه پرېښې دي
د ګـاډو تـور لـوګي او خـړه هـوا
زمونـږه ټولـه دنيـا ، ټولـه دنيـا
د آبـادۍ لـه زوره سـترې فضـا
چې مونـږ د خپـل تاوان شعور نـه لرو
چې مونـږ د خپـل ځان سره ښـه نـه کول
د سـمندر هـوا زمونـږه څـه وه
د سـمندر هـوا پـه مونـږ څـه کـول.

www.sikaraam.com

# په اباسین خفه شوم

په اباسین خفه شوم
په دغه سیند خفه شوم
چې څنګه شور یې کړ
زورور زور وُ پکښې
زوور زور یې کړ
څنګ غړمبېده روان وُ
په دو ، دو ته (تلو) روان و
د واورو غرونو په سر
غرونه یې وړه روان وُ
څنګ رېږده له زوره
څنګ یې تړیونه وهل
څنګ یې چپې وهلې
څنګ یې موجونه وهل
څنګ په خپل زور غاور وُ

www.sikaraam.com

بل څوك يې نۀ اورېده
تلو په خپل زور غاورۀ
دا څه يې څه اورېده
"د اباسينه مې ګيله ده
په غوږ سونډې ورته ولاړه يار مې وړينه"
دے په خپل زور غاوره
ده د چا نۀ اورېدل
که چا به هر څو ونيل
که خلکو هر څو ژړل
"راغلے نۀ وے اباسينه
په نيمه شپه دې نوښار درې ورې کنه"
که چا بۀ دا وويل
دے به لا نور غصه شو
که ده به دا واورېدل
په ځان بۀ نور غره شو
"اباسين بيا په چپو راغے
په سر يې راوړې سپينې خولې سره مهرانونه"

www.sikaraam.com

په اباسين خفه شوم
څه زورور سين وٚ
څومره ډېر څه يې لړل
څه بختور سيند وٚ
ده چې به ساه اخيسته
زمکې به څنګ بدلوٚ
ده چې به لمر ته کتل
اسمان به رنګ بدلوٚ
ده به په دو کښې راوړل
څان سره سره ټيکونه
دده په غاړو به وو
سپين کاڼي سره لعلونه
دده کاړونه د سرو
دده بېړۍ بامونه
دده کرکنې ميوې
دده بيلې ګلونه
دده رڼا لوېوٚل

www.sikaraam.com

د خدای پلونه میان
دده ها به راوړل
رنګ رنګ ګلونه، مرغان
دده بلا مئیني
ښکلې، ښائسته جینکۍ
په ده به تل الوتې
د محبت لولکۍ
دده په هر ګودر به
سپرلې، اختر مېله وه
دده په هره غاړه
هر مازیګر مېله وه
دده په خوا کښې به وې
د میني هلې ځلې
دده په غاړه به وو
ناست زلمي ډلې ډلې
چا به چیچې شمېرلې
چا به قیصې کوټلې

www.sikaraam.com

چا به شپیلۍ وهلې
چا به ټپې کوټلې
په ده آباده دنیا
د رنګینو ډکه وه
هم په سندرو مړه
هم د قیصو ډکه وه
په اباسیند خفه شوم
په دغه سیند خفه شوم
څومره دبدب وې دده
په څه غرور کښې به وې
سیند وې که ډب وې دده
د ښا پست سیال یې نه و
د زور مثال یې نه و
خو اوس هیڅ سُر نلري
لکه چې تال یې نه وي
په اباسیند خفه شوم
یا چې څه وې نو څه و

www.sikaraam.com

يا چې څه دے نو څه دے
يا لېونے روان و
يا اوس د تللو نه دے
اندام اندام يې وتې
ليچې وزرې ښکارې
پرون يې غرونه ورړل
نن يې کمرې ښکارې
په اباسيند خفه شوم
ده د ځوانۍ په زور کښې
څنګه تېپې کوټلې
ده پښتنې خاورې ته
څنګه قيصې کولې
ده د يوسف سترګو له
د بانو رنګ ورکړے
ده د دلے غيرت له
د شهې ننګ ورکړے
ده د خوشال تورې له

www.sikaraam.com

د ننګ اوبه ورکړي
ده د رحمان قلم له
د حیا سره ورکړي
ده پښتنې دنیا له
د ښائست شور ورکړے
ده د پښتون غیرت له
د مینې زور ورکړے
خو! چې په ده راغلله
پښتنو هیڅ ونه وې
دا غریب دغسې شو
شته پښتو هیڅ ونه وې
هیچا پرې ننګ ونه کړ
په دغه سیند خفه شوم
په پښتو ویرېدم
په اباسیند خفه شوم.

www.sikaraam.com

# غــزل

نــه لېونـــے او نـــه ملـــنګ پېژنـــي
ښکلي قلـنګ غـواړي قلـنګ پېژنـي

د لونګينـو غـاړو خـداے اسـره شـه
زلمـي نـه لـوژ او نـه لـونګ پېژنـي

د اوسنيو پېغلو دې خدائے اسره شي
نکريـزې نـه پېژنـي، رنـګ پېژنـي

څنګ به سپوږمۍ ته رسي خاورې نشي
پښتانـه مـرګ پېژني، جـنګ پېژنـي

www.sikaraam.com

د پښتنو په غم مېن لېوني
خوشحال خان پېژني، اورنګ پېژني

ته خو خبر یې چې دنیا څنګه ده
نه ګودر پېژنې، نه بنګ پېژني

له دنیا هغه خلکو ګته وکړه
چې خپله لې او خپل آهنګ پېژني

د محبت په راز مئېن لېوني
سره شمع پېژني، پتنګ پېژني

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غزل

رمـــا د زړه درزا ونـــــې
زمـــا مښنـــه مینـــه مـــا پېژنـــي

پـــه دې کښــې څـــه د حیرانـــۍ خبـــره
تـــه آئینـــه، آئینـــه تـــا پېژنـــي

پـــه خنګلونو کښــې لوے شوے انسـان
د ښـار تیـــاره، د ښــار رڼـــا پېژنـــي

www.sikaraam.com

زما د مينې د خوبونو فصل
د وربښخ تول دروغ، رښتيا پېژني

د محبت په ښار کې ورك لېوني
ځانونه پېژني، دنيا پېژني

ماته دا نه وايي چې څه دې وکړل
زما د ښار لېوني ما پېژني.

www.sikaraam.com

# غـــزل

څـــه دا وهمونـــو د تيـــارو ووتـــې
زړه چـــې د ميـــنې د لمبـــو ووتـــې

زمـــا د زړه د كـــوره ونـــه وتـــې
كـــه د محفلـــه پـــه وتـــو ووتـــې

اوس چې ساه اخلي، زما ساه ډوبوي
زړه د تپونـــو د غوټمـــو ووتـــې

دا اوبـــه څـــه د غـــم د اور اوبـــه وي
لـــه صراحي نـــه پـــه سلګو ووتـــې

www.sikaraam.com

ارمانـــه پــوه شــومه رښتيــا دې ووې
لاړې پـــــه لار د لېونـــــو ووتـــــې

مينې هوښيـاره شوې، هوښيـاره به شې
کـــه د څــو نـــورو حـــادثو ووتـــې

اوس پــه ښو کښې اوښکــې نــه ګــرزوې
صـــابره لاړې د قيصـــو ووتـــې

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# غــزل

چې په ککو کښې ستا د مينې مېکده ګرزوم
سترګو کښې خوب او په بڼو کښې شوګيره ګرزوم

لاخو د درد په تار کښې پېرم د الفت ګلونه
لاخو د زړه د پرهر خوله په وينو سره ګرزوم

زه لېونے يم، که رښتيا ازار وهلے يمه
چې په رندو پسې په لاس کښې آئينه ګرزوم

خير! ما دې وژني، ما دې مړ کړي د رڼا قاتلان
زه به په لاس کښې د شعور بله ډيوه ګرزوم


www.sikaraam.com

له سپینو واورو بارانونه د سپرلي غواړمه
په تورو غرونو د سپوږمۍ ماته کاسه ګرزوم

ما د حالاتو لېونی سوکړه وژلے نشي
زه د ارمان په تندي ستا د خیال خوله ګرزوم

ما لېونے به پکښې خدائے خبر چې څوك پېژني
زه د تول کلي غم د مینې په اوږه ګرزوم

د توري شپې توره تیاره د ژمي یخه یخني
زما نصیب دے چې په لپه کښې لمبه ګرزوم

www.sikaraam.com

# غـــزل

تـــا چـــې زمـــا پـــه زړهٔ کښـــې تـــا وکـــړه
مـــا درتـــــه څـــه بـــــلا دعـــــا وکـــــړه

هـــر ښکلـــي، هـــرې ښکـــلا، هـــرې ادا
زمـــا د زړهٔ څـــه نـــه څـــه غـــلا وکـــړه

د ژونـد پـه سـاه، سـاه کښـې مې سـاه اخلي
پـــه مـــا يـــې داســـې څـــهٔ بـــلا وکـــړه

شپـخه! زمونږ خدا ے بـه دې خـنـګـک وبخښي؟
پـــه محبـــت کـــې دې ريـــا وکـــړه

www.sikaraam.com

په ښار کښې څوك د خنه نهٔ دے خبر
هر چا د خپله کوزه غلا وکړه

درد، درد مې څرېکې څرېکې سترګې وکړې
داغ، دغ مې دغسې رڼا وکړه

زه هم هغوی په کاڼو ویشتے یمه
ما چې د چا سره وفا وکړه

Pukhto.Net
پښتو

# غــزل

څوک چې داغ داغ ګنې زموږه لېونو لمنې
دنیـــا لیــدلي دي د هغـــه فرښتـــو لمــنې

دلتــه د غـل او د قاضـي قیصـه یـوه قیصـه ده
دلتـه کښې سپینې دي د غلو د غلچکو لمنې

مونږ په څولو کښې د حالاتو واورې ویلې کړلې
مونـږه نیـولې وې د میــنې پــه لمبــو لمــنې

یــارانو هلتــه بــه نــزدې وي د ګلونــو موســم
چې په کوم ځاے کښې درنه ونیوې ازغو لمنې

www.sikaraam.com

# غــزل

ســترګو يـې اور کــو لمـبې کــولې
د پزهـر څرېکـو مـې شـغلې کـولې

سـتا د قامـت سـيالي اسانه، نـه وه
چنـار پـه زمـي کنبـې لمـبې کـولې

دا محتسـب د چـا ازار ووهـو
ده بـه رنـدانو تـه ښېـرې کـولې

زمـا د زړه دشـت تـه راغلـې هـوا
سـتا د ښو د بـڼ قيصـې کـولې



Pukhto.Net
www.sikaraam.com

ستا د ناز غني مې لـه خدايه غوښتې
مـــا د زخمونـــو نـــه جـــامې كـــولې

د يـــو پرهـــر د يـــوې شـــپې دردونـــو
ســـتا د ښـــو بـــلا قيصـــې كـــولې

**صــابره** خنكـــه د دنيـــا ســـاده وې
چـــې د دنيـــا نـــه دې ګـــيلې كـــولې

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

## غــزل

د زورورو زوروري کېـــــــــــــږي
دلتـــه د نـــه کېــدو خــبې کېـــږي

بــې زوره هغســـې بــې زړه بــې وســه
پــــه زرو هغســـې وزرې کېـــــږي

زمونـــږ لمـــنې هســـې تــورې نــه دي
زمونږ پــه غرونو کښــې ګورګورې کېــږي

لا دې پــه دې خــاوه خـوك زړه نــه سـيزي
لا پکښــې شــات شتــه دے، شــکرې کېــږي

Pukhto.Net



www.sikaraam.com

ما د احساس د اور اوبه ورکړي
د زړه په زمکه مې سندرې کېږي

بیا یې څوک نوم اخلي پښتون یادوي
بیا چرته جنګ کېږي، لښکرې کېږي

لا څو څوک ژبه خوزولې نه شي
لا څو په سترګو کښې خبرې کېږي

صابره! هغسې ستا نوم اخلي څوک
په ګودر هغسې خبرې کېږي.

# غـــزل

که زمونږ تورې نه وې. زغرې نه وې
نن به د ژونده دومره لرې نه وې

څه بلا وه، خو سر يې نه لګېده
په ښار کښې خلك وو خبرې نه وې

خبره دا نه وه چې نه الوتو
خبره دا وه چې وزرې نه وې

مونږ مئين وو. په مينه نه پوهېدو
زمونږ بلې وې خو کوترې نه وې

www.sikaraam.com

پښتونه! څه غم دې په کور راغلے
چې په ښادۍ کې دې سندرې نه وې

یاران به څنګ له یو بل څه زاربده
د مینې شکور نه و، شکرې نه وې

ستړګو یې زه زما نه واخیستمه
صابره! د ډېرې زوروري نه وې

www.sikaraam.com

# غـــزل

د ژونـد صـحرا تـه مـې د مينـې بـاديوه راوړې
مـا د احسـاس د ګـل پـه لپـه کښې لمبـه راوړې

زه د مـنـنېن زړه د رضـا نـه بغېـر نـه پايمـه
مـا کلـه کلـه د جانـان کلـي تـه شـپه راوړې

زمونږ څه خو يا په سترګو کښې لمبې د خمار
يـا پـه تنکـي زخـم کښې سـتا د يـاد شـغله راوړې

د لبونتوب د جنګ په زغره کښې مې نغښتي ايمان
د سـحر لمـونځ لـه مـې د څـان سـره نېـزه راوړې

www.sikaraam.com

زما نصیب زما د جنګ او جهاد دغه برخه
چې خپله توره مې په خپلو وینو سره راوړې

راشه چې خپل مخ پکښې ووینې خان وپېژنې
ما په ورغوي کښې د مینې آئینه راوړې

بس داسې لږ د مینې رنګ ورکړه نو ډېره ښه ده
وخته چې تا د نوي ژوند کومه نقشه راوړې

ته راته وایه چې څه په کربلا کښې شوي
ما په تکرار او په بابره تبصره راوړې

دغه سرې د محفل رنګ ته ګوري اوروي څه
هم یې غزل راوړے، هم یې قیصیده راوړې

بیا به په هر سرې په زور خپله خبره منې
زورور بیا د خپل غرض توره تېره راوړې

www.sikaraam.com

د خپل قدرت له نصاب ما خبروي، ما پوهوي
زما قاتل ما له زما د سر کاسه راوړي

زما د غرونو د ښائيست د غمه هر سوداګر
د کرش مشين او فولادي سپينه اره راوړي

د انتظار د هار تودو غرمو وهلے صابر
د خپل ارمان د ونې سيوري له دمه راوړي.

Pukhto.Net پښتو

www.sikaraam.com

# غــــزل

ذرې ذرې شي چې رڼا تـه رسي لمر تـه رسي
ستورې د سختو نه تېرېږي چې سحر تـه رسي

د مزل سترې د منزل په مخکښې هېڅ هم نـه وي
لـه غرونـو اوړي چې سیندونه سمندر تـه رسي

چې نښـه وي، مـښن کوڅـه د جانـان وپېژنـي
د مـات تیکري پـه درك سرې ګـودر تـه رسي

پـه مـا هـم هغـه څـوك د كفـر ګـواهي وركـوي
څوك چې زما په زور محراب ته څې منبر ته رسي

پـه كـربلا كښـې بـه سـحر وي رڼـا شـوې بـه وي
چې د حسـین پرېكړی سر د یزیـد در تـه رسي

www.sikaraam.com

د محبـت پـه ژبـه هغـه لېـوني پوهېـږي
د چا د زړه د زخم څړیکه چې خیګر ته رسي

شوګیره هغه وي چې شپه تري سترګه پټه نه کړي
اسویلے هغه وي چې تاؤ یې ستمګر ته رسي

د خوشحال ځلے ترېنه کوم تیراه ته وتښتـوؤ
د اورنګزېب د اس د پښو دوړه خیبر ته رسي

غـر د پیریـانو، ښاپېرۍ د تـوره بـان ورسـي
زمونږ د میني قیصه سر وخوري چې سرته رسي

تـه د صابر زړه دردوي تالـه مـزه درکـوي
ما سره غم دے چې ازار یې ستا نظر ته رسي

هغـه د غرونـو لېونے بـه پکـې څـوك پېژنـي
دنیا بـه نوره وي **صابر** چې پېښـور تـه رسي.

www.sikaraam.com

# غـــزل

چا چې د حسن د سپرلي د خوند قيصه کړې ده
زما د زړه د پرهر غوړېکې سره لمبه کړې ده

ما او جانـان يـو بـل تـه ډېـر کتلـي ډېـر ژړلـي
ما او جانان زما د زړه په کور کښې شپه کړې ده

دا د چينې خوا ته ګل، دا د ګل په مخ کې رڼا
په دې صحرا کښې چا منبن لېوني شپه کړې ده

په دې کوڅه کښې مې بلا خاورې په سر باد کړي
ددې کـوڅې خلکـو مـې ډېـره تماشـه کـړې ده

www.sikaraam.com

زه د دې ښـــار د روغ رنځـــور خبـــرې پېژنمـــه
مـا د دې ښـار پـه پټ پـاتونو شـوګيره کـړې ده

زه د اســمان د بدنیتـــی نـــه خبــر شـوے یمـه
مـا د سـپوږمی سـره ښـګـاه لـږه جرګـه کـړې ده

بیـا بـه زمـا د درد د څـړیکـو ځـانګې نـه غـوځـوي
سپرلي زمـا سـره د ګل پـه خولـه وعـده کـړې ده

Pukhto.Net
پښتو

www.sikaraam.com

# مونږ به نهٔ مرو

چې ترڅو غرونه ولاړ یې
چې ترڅو واورې وریږي
چې ترڅو سیندونه خوزي
چې ترڅو اوبۀ بهیږي
چې ترڅو زمکه لونده وي
چې ترڅو اسمان پرقیږي
چې ترڅو بادونه لګي
چې ترڅو سپرلي توکیږي
چې تر کومې رڼا لګي
چې ترڅو رنګونه ریږي
چې تر کومې لمر راخیژي
چې ترڅو ګلونه رپي

www.sikaraam.com

چې تر کومې سپوږمۍ خاندي
چې ترڅو بادونه ربي
چې ترڅو کومې پرې خوزي
چې تر کومې پردې خوزي
چې ترڅو تارونه ربي

زه او ته به په دنيا يو
زه او ته تر هغې نه مرو
چې په زمکه هوا لګي
مونږ به څنګ مرو ، مونږ به څه مرو

چې د زمکې زړے لوند وي
خدائے ګواه دے که به ومرو
په يو شکل کښې به پايو
په يو شکل کښې به نه ، مرو

په ګلونو کښې به ګرځو

www.sikaraam.com

په سپرلي کښې به ټوکېږو
په هوا کښې به الوزو
په باران کښې به ورېږو

په رنګونو کښې به رپو
په رڼا کښې به ټوکېږو
په سازونو کښې به اوسو
په نغمو کښې به ترنم‌ېږو
په زره کښې به غرېږو
په لمحه کښې به ټوکېږو

Pukhto.Net
پښتو
www.sikaraam.com

# غزل

څه د دړدونو لېوني بادونه ولګېده
ستا د ښو سره مې بیا زخمونه ولګېده

ما د ګلونو لار په دوه قدمه ووهله
ستا په یو دوه قدمه لار ګلونه ولګېده

چې د وجود وینه مې تووله مینه مینه شوله
په زړه مې خدای خبر د څو لاسونه ولګېده

د هغه یو ګل د یوې نرمې خندا په طمع
زما د زړه په زمکه ډېر ګلونه ولګېده

دنیا که هر څو محبت د کفر ځلې ګڼو
خو په دې ځلي د دنیا سرونه ولګېده

www.sikaraam.com

په هغه خاوره د نفرت فصلونه، نه ټوکېږي
په کومه خاوره چې زمونږ پلونه ولګېده

ما د وفا سترګې په يو محفل کښې ټيټې نه کړې
که په لمن مې د دنيا داغونه ولګېده

اوس دې د زړه درزا زما د زړه خبرې کوي
ستا په بې غمه زړه زما غمونه ولګېده

*صابره!* مونږ خو لا د يو بل لوګي شوي نه يو
په رقيبانو خامخا اورونه ولګېده.

## بغاوت

د رواجونو د تيارو د يرې
د نيمې شپې د خاموشۍ په څلي
د دوو مئينو سوري
لکه ګلونه رپي
تلي پيرونه رپي.

www.sikaraam.com

# غــزل

ستا د میني په نوم اوس هم ګنهګار دے
هغــه ستا لېونے هغســې په دار دے

د احساس د ګل ګرېوان پکښې تار تار دے
خدایــه دا څنګــه چمن څنګــه بهــار دے

د وجــوده مــې چــاپېره خوشــبویي شــوه
دا مې ته په خوا کښې تېر شوې که بهار دے

www.sikaraam.com

بادشاهان یې د سرو سپینو سوداګر دي
لبونې پکښې څوک څه پېژني بشار دے

دا نشه به دې که خير وي سبا نه وي
نن خو خير دے ستا د زلفو اقتدار دے

دا چې اوس هم د ځوانۍ خوبونه وینم
ما لیدلے ستا د تورو زلفو وار دے

چې د هر څه وي په هر څه کښې بې کار وي
دا سړے څنګه د هر څه نه وېزار دے

څوک د زړه په زخم هغسې نازېږي
څوک د زړه د شوره اوس هم ناقلار دے

دا چې زه پرې د دنیا رنګونه وینم
دا د کوم اسمان د کومې رڼا تار دے

www.sikaraam.com

زه د سره په خان خو خله غلط شوم
ماته خان ښکاري ستا د مينې

ستا د مينې د جنتـه مې وباسي
کمپيوټر، کـه انټرنېټ. کـه وي.سي.ار دے

د دنيا هره سودا پکښې خرڅېږي
زړونه نـه دي، دکانونـه دي بـازار دے

ماتـه پتـه ده زمـا نـه قربانېږي
زه يې پېژنم **صابر** دے زما يار دے

www.sikaraam.com